امام شافعی فرمائی: **اذاصح الحدیث فهومذهبی واذا رأیتم کلامی یخالف الحدیث فاعملوا بالحدیث واحزبوا بکلامی الحایط.**

(عقدالجید).

یعنی صحیح حدیث زما مذهب دی که تاسو زما کلام د حدیث په خلاف وینئ نو د حدیث اطاعت وکړئ او زما کلام په دیوال وولئ.

امام مالك فرمائی: **انماانابشر اخطی واصیب فانظروا فی رای فکل ما وافق الکتاب والسنة فخذوه و کل مالهم یوافق فاترکوه لیس لاحد مع الله ورسوله کلام.**

(عقد الجید).

یعنی زه یو انسان یم چه کله به می خبره صحیح وی او کله غلطه نو تاسو زماهغه خبره ومنئ چه د قرآن او سنت سره مطابق وی او زما هغه خبره چه د قرآن او سنت سره مطابقت ونه لری مه یی منئ. د الله او رسول د کلام په موجودیت کی د هیچا کلام د منلو وړ نه دی.

امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی: **اذا قلت قولاوکتاب الله یخالفه فاترکوا قولی بکتاب الله فقیل اذاکان خبرالرسول صلی الله علیه وسلم یخالفه قال اترکوا قولی بخبرالرسول فقیل اذا کان قول الصحابة یخالفه قال اترکوا قولی بقول الصحابة.**

(روضة العلماء)

یعنی کله چه زه خبره کوم او هغه د کتاب الله سره مخالفه وی نو د الله د کتاب په مقابل کی زما خبره پریږدئ. خلکو پوښتنه وکړه که ستا خبره د رسول الله صلی الله علیه وسلم له حدیث سره مخالفه وی؟ امام وویل د حدیث رسول الله په مقابل کی زما قول شاته وغورزوئ، بیا خلکو پوښتنه وکړه که ستا قول د صحابه له قول سره مخالف وی؟ امام وویل د صحابه ؤ د قول په مقابل کی زما قول پریږدئ.

لنډه دا چه ټول ائمه په اتفاق سره وائی هر چا ته چه په کومه مسأله کی د الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم څرګندوی بیا ورته د لوئی نه د لوئی مرتبی لرونکی شخصیت قول منل حرام دی او په هر ډول اختلافی مسأله کی یوازی د الله تعالی او د بشریت د لارښود محمد صلی الله علیه وسلم د سنتو پیروی او د ژوند په ټولو اړخونو کی د قرآن او سنت انفاذ د حقیقی ایمان نخښه او معیار دی.

زمونږ له پورتنیو مثالونو څخه څرګنده شوه چه د دین ټول امامان په حقیقت کی د قرآن او سنت رښتونی پیروان وو. او څوك چه د امامانو حقیقی پیروی کوی باید تر ټولو لومړی د قرآن او سنت پیروان شی او که د قرآن او سنت پیروی ونه کړی نو دوی په حقیقت کی د امامانو پیروان هم نه دی.

اطاعت رسول الله صلی الله علیه وسلم

قسمت دوم

معنی ایمان بر پیامبر خداوند اینست که فرامین واحکام پیامبر بر حق است اوامرش اصح ومبنی بر حقیقت است وعمل و کردارش قابل اتباع میباشد.پذیرش کلیه اوامر پیامبر و اتباع عملکرد او اعم از عبادات، معاملات واخلاق بر مؤمنین فرض است. کسانیکه زندگی شان را بازندگی عملی پیامبر بزرگوار اسلام تطابق دهد درحقیقت رسالت پیامبر را پذیرفته و ایمانش کامل وسالم است. رهبر بشریت می فرماید:

لایؤمن احدکم حتی یکون هواه تبعاً لما جئت به.

(شرح السنة)

ترجمه: احدی ازشما مؤمن کامل شده نمیتواند مگر اینکه خواهشاتش را تابع شریعت من قرار دهد.

یعنی درصورتیکه فکرو تصمیمش را با اوامر و هدایای رسول الله صلی الله علیه وسلم تطابق دهد، در حقیقت بر اکمال ایمانش صحه گذاشته است و کسانیکه تابع او امر پیامبر نبوده مؤمن نمیباشد.

کل امتی یدخلون الجنة الامن ابی قیل ومن ابی قال من اطاعنی دخل الجنة ومن عصانی فقد ابی.

(بخاری شریف)

تمام امت من داخل بهشت میشود جزآنکه از ورود به بهشت انکار ورزد. عرض شدچه کسی انکار میکند، فرمود: آنکه از اوامر من اطاعت کند وارد بهشت میگردد وآنکه از اوامر من سرباز زند انکارمی ورزد.

محبت رسول الله صلی الله علیه وسلم:

اکنون که حیثیت و ارزش پیامبر هویدا گردید لازم می افتد تا عشق با رسول خدا درقلوب مؤمنین باید نسبت به محبت با دیگران افزون تر باشد و عشق با رسول معنی اش اینست تا اوامرش تعمیل گردد و از اعمال و افعالش اتباع بعمل آید.

آنچه برای تان امر کند باید تعمیل گردد و ازآنچه باز تان دارد باید اجتناب ورزید، پس ایمان به رسول، محبت با رسول واطاعت ازرسول معنی واحد را افاده میکند ازین جهت پیامبر صلی الله علیه وسلم می فرماید:

لایؤمن احدکم حتی اکون احب الیه من والده وولده والناس اجمعین

(بخاری شریف).

ایمان احدی از شما تا زمانی به مرحله اکمال نمیرسد که مرا بیشتر از والدین واولاد تان وهمه مردم دوست بدارید همچنان می فرماید:

من احبنی کان معی فی الجنة

(ترمذی)

آنکه مرا دوست دارد بامن یکجا وارد بهشت میگردد.

عشق با رسول الله صلی الله علیه وسلم جزء ایمان است و بر شخص مؤمن لازم است تا پیامبر خدا را بیشتر از والدینش و اقارب و اولاد خود دوست بدارد و اگر ضرورت دیده شود اقارب و والدینش را در مقابل فرموده پیامبر اسلامی ترك گوید وحتی با ایثارجان ومالش از پیامبر بزرگوارشان دفاع نماید و هنگامیکه یك چنین کیفیت برشخص مؤمن طاری گردد، ایمانش کامل است، رویداد حضرت عمررضی الله عنه دال بر مدعای فوق است، حضرت عبدالله بن هشام می فرماید که ما در محضر پیامبراسلام قرار داشتیم، آنحضرت دست حضرت عمر را در دست مبارك شان گرفته بود، حضرت عمررضی الله عرض کرد:

لانت یا رسول الله احب الی من کل شیء الامن نفسی. (بخاری)

ای رسول الله، ترا جز جانم بیشتر از همه کس دوست دارم.

آنحضرت صلی الله علیه وسلم فرمود: قسم بخدا تازمانیکه مرا نسبت به جانت بیشتر دوست نپنداری ایمانت به اکمال نمیرسد. حضرت عمر رضی الله عنه عرض نمود: اکنون ترا بیشتر ازجان خوددوست دارم. آنحضرت صلی الله علیه وسلم فرمود: اکنون ایمانت به اکمال رسید.

هکذا قرآن عظیم الشان می فرماید:

یایهاالذین آمنوا لاتتخذو اباءکم واخوانکم اولیاء ان استحبواالکفر علی الایمان ومن یتولهم منکم فاولئک هم الظلمون. قل ان کان اباءکم وابناءکم واخوانکم وازواجکم وعشیرتکم واموال ن اقترفتموها وتجارة تخشون کسادها ومساکن ترضونها احب الیکم من الله ورسوله وجهاد فی سبیله فتربصوا حتی یاتی الله بامره والله لایهدی القوم الفاسقین.

(توبه- ع -۹)

ترجمه: ای مؤمنان! اگر پدران و برادران تان در مقابل ایمان کفر را برگزینند از قرابت شان دست بر دارید وآنکه از حکم خدا سرباز زند در زمره ستمگران قرار میگیرند. (ای پیامبر) برای شان اعلام کن: اگرپدران تان، اولادها، برادران همسران و فامیل تان و بازرگانی تان که از کساد آن می اندیشید و منزل رهایش تان راخیلی دوست داریدش اگر این همه را بیشتر از الله و پیامبرش و جهاد فی سبیل الله می پسندید پس منتظر عقوبت خدا باشید که بر سر تان آمدنیست و خداوند، فاسقان را راه نمی نماید.

ازاین آیه کریمه برمی آیدکه محبت با خدا و رسولش باید بیشتر ازعشق بادیگران باشد و اوامر خدا و پیامبرش را بر همه اوامر وخواهشات ترجیح باید داد.

در جریان غزوه احد یکی از زنان انصار از شهادت پدر، برادر و شوهرش اطلاع یافت. اما این بانوی مؤمن قبل از همه از سرنوشت پیامبر بزرگوار اسلام پرسید و هنگامیکه دریافت رسول خدا بعافیت است گفت نخست باید بحضور اقدس پیامبر بروم

هنگامیکه پیامبر را بسلامت دید شکر خدا را بجا آورد وگفت اینکه پیامبر اقدس بسلامت اند غم و اندوهی برایم نیست.

از قاضی عیاض مرویست که شخصی بحضور اقدس پیامبر اسلام حاضر شده عرض نمود که پیامبر خدا برایم بیشتر از اهل ومالم عزیز است. اگر چند روزی بحضور مبارك مشرف نشوم محزون و متالم میشوم تا اینکه بیایم و روی اقدس را زیارت کنم.

اکنون تشویش ازآن دارم که پیامبر بزرگوار پس از وفات شان نزد انبیاء علیهم السلام خواهند بود من چگونه آنحضرت را دیده بتوانم. مقابلتاً این آیة کریمه نازل گردید:

ومن یطع الله والرسول فاولئک مع الذین انعم الله علیهم من النبیین والصدیقین والشهداء والصالحین وحسن اولئک رفیقا.

(النساء)

یعنی کسانیکه از اوامر خداوند وپیامبرش اطاعت میکنند باذواتیکه مورد انعام خداوند قرار دارند خواهند زیست یعنی با انبیاء، صدیقین، شهداء ونیکان وصحبت این بزرگواران موهبتیست بزرگ.

محبت خدا در اطاعت پیامبرش مضمر است وکسیکه از امر پیامبر اطاعت میکند در حقیقت دوست خدا است. الله تعالی در قرآن عظیم الشان می فرماید:

قل ان کنتم تحبون الله فاتبعونی یحببکم الله ویغفرلکم ذنوبکم والله غفور رحیم. قل اطیعوا الله والرسول فان تولو فان الله لایحب الکافرین.

(آل عمران)

(یعنی ای پیامبر به همه مردم) بگو اگر میخواهید رضای خدانصیب تان گردداز من اطاعت کنید خداوند

شما را دوست خواهدداشت، و گناهان تان را عفو میکند و خداوند امر زنده مهربان است.

بگو از خدا و پیامبرش اطاعت نمائید اگر آنها از اطاعت خدا و پیامبرش سر باز زنند در حقیقت کافر و نافرمانند و الله تعالی کافران را دوست نمی دارد.

خداوند لایزال طی سی پاره قرآن مبارك چهل مرتبه بر اطاعت و اتباع رسول اکرم صلی الله علیه وسلم تاکید ورزیده و فرمانبرداری پیامبر را بدون قید وشرط بر مسلمانان لازم قرار داده که ازمتن آن بوضوح آشکار میگردد که زندگی اسلامی بدون اطاعت رسول الله صلی الله علیه وسلم امکان پذیر نمیباشد.

آفر یدگار کاینات می فرماید:

وما ارسلنا من رسول الا لیطاع باذن الله. (النساء)

یعنی پیامبررا ازین جهت فرستادیم تا مطابق احکام خداوند از وی اطاعت بعمل آید.

ازین آیه متبرکه آشکار گردید که هدف از بعثت انبیاء علیهم الصلوة والسلام اینست تامردم از طریق اطاعت پیامبران به اطاعت الله تعالی رسیدگی نمایند.در آیه متبرکه فوق موقف پیامبران کاملاً روشن گردیده و اطاعت پیامبران بر کلیه افراد بشر حتمی و لازمی قرار داده شده است زیرا بجز از آن اطاعت خدا بی معنی و به هدر است.

خداوندمتعال در قرآن عظیم الشان می فرماید:

فلاوربك لا یؤمنون حتی یحکموك فیما شجر بینهم ثم لا یجدوا فی انفسهم حرجاً مما قضیت و یسلموا تسلیما.

ترجمه:(ای محمد صلی الله علیه وسلم)بر پروردگارت قسم این مردم مؤمن شده نمیتوانند مگر اینکه در مسایل اختلافی شان ترا بحیث حکم بشناسند و در مقابل فیصله تو در قلوب خویش احساس حرج و رقت نکنندو فیصله ات را کاملاً بپذیرند.

شیخ الاسلام علامه ابن قیم رحمه الله ضمن تفسیر آیه مبارکه فوق می نویسد:

ترجمه: «خداوندمتعال بر ذات اقدس خودسوگند یاد میکند کسانیکه مسایل اختلافی فی مابین شان اعم از مسایل عادی و بغرنج را طبق فیصله رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نمی پذیرند از نعمت ایمان مستفیض نمی شوند، و خداوند متعال به تعمیل حکم رسول الله از طرف مردم اکتفا نمی کند بلکه می فرماید که افزوده بر تعمیل حکم عدالت نبوی، مسلمانان بایددر مقابله اصدار حکم رسول الله صلی الله علیه وسلم احساس رنج و رقت نکنند وقلباً حکم پیامبر شان را بپذیرند و به آن تسلیم شوند.»

برخی از مفسرین، شان نزول این آیه مبارکه را چنین تشریح می نمایند: درعهد فرخنده حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم، نزاعی بین یهودی ئی و مسلمانی بوقوع پیوست، هر دوی شان جهت تا مین انصاف و به عدالت پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم حاضرشدند، پیامبر اسلام ادعای هردو را شنیده فیصله را در حق شخص یهودی صادرفرمودند.شخص مسلمان برفیصله پیامبر بزرگوار مطمئین نشده یهودی را باخود گرفته نزدحضرت عمرفاروق رضی الله عنه رفت، زیرا چنین می انگاشت که حضرت عمر مسلمان سخت گیر و متعصب است و شاید بنابر داشتن وجه مشترکه مسلمانی ازوی دفاع کند، حضرت عمر رضی الله عنه ادعا را شنید اما یهودی عرض کرد که درین مساله حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم اصدار حکم نموده اند، حضرت عمر از شخص مسلمان پرسید آیا حقیقتاً پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم درین مساله حکم شان را صادر نموده اند؟ مسلمان مجبوراً پاسخ مثبت داد. حضرت عمر رضی الله عنه تا حدی بر افر وخته شدکه گردن مسلمان (منافق) را بر شمشیر زد.

وفرمود: **هذا قضاء من لم یرض بقضاء رسول الله صلی الله علیه وسلم.**

یعنی این است فیصله در باره شخصیکه برفیصله پیامبر اسلام خوشنود نمی گردد.

د افغانستان راتلونکي حالات د شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) په ارزیابۍ کې

(افسوس)

دا یو نه پټیدونکی حقیقت دی چه دشهید شیخ په خلاء د افغانستان جماعة الدعوة الی القرآن والسنة تنظیم او دده دملګرو په شمول ټول اسلامی امت دردمن او خواشینی دی او دافغانستان دحق پرستو مجاهدینو په صفونو کی یوه لویه نیمګړتیا رامنځ ته شوی ده، لیکن دشهادت افتخار یی هم جماعة الدعوة الی القرآن والسنة او د توحید د شمعی د رښتینو پتنګانو او ټول اسلامی امت ته هغه شان حاصل دی لکه څنګه چی شهید او دشهید ځپلی کورنۍ ته حاصل دی.

د شهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) په شهادت نه یوازی داچی دهغه کورنی او دهغه ماشومان بچی د مهاجرت په شپو ورځو کی یتیمان شول، بلکی دافغانستان دسوونو زرو شهیدانو ماشومان بچی اوبی سرپرسته کونډی د نوموړی شهید شیخ له همدردۍ او سرپرستۍ څخه بی برخی او همدارنګه دافغانستان په سنګر کی د پرتو مجاهدینو په صف کی یوه لویه خلاءاو نیمګړتیا رامنځ ته شوه.

شهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) د یو مدبرانه او د قرآن او سنت په تله کی دتلل شوی پالیسۍ او سیاست خاوندؤ، دهرکار د تدبر صلاح مشوره یی یوازی او یوازی د قرآن او سنت څخه اخستله او د افغانستان دمجاهد ملت هری ستونزی ته یی دقرآن اوسنت په رڼا کی دحل لار لټوله.

شهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) سربیره پردی چه دیو مدبر او سالم فکر خاوند ؤ، یوداسی شفیق او همدرد انسان هم ؤ چه هیڅکله یی هم دخپل اولاد او دبل شهید دیتیم او کونډی فرق نه دی کړی.د نوموړی کښیناستل، پاڅیدل، خوراك، څښاك او همدارنګه دژوند هره لحظه ډیره ساده او بلاامتیازه وه.

شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) په ننني عصرکی هغه لمړنی شخصیت ؤ چی دلمړی ځل لپاره یی دټول افغانستان په سطحه دکنړونو د ولایت له غرونو او درو څخه په افغانستان کی دملحد رژیم دراتګ په مقابل کی دمقدس جهاد چغه پورته کړه او په عملی جهاد یی لاس پوری کړ کله چه دالله تعالی په نصرت او مهربانۍ سره دا ولایت دننګیالیو او مسلمانو مجاهدینو په لاس دکمونست رژیم له ناپاکه قدم څخه پاك او دمسلمانو مجاهدینو په لاس پری دآزادی بیرغ په یوه اسلامی فضاء کی ورپید، همدا شخصیت ؤ چی ټول مجاهدین یی سره منسجم کړل او د یوی واحدی اسلامی اداری جوړولو ته

یی وهڅول چه په نتیجه کی د اسلامی امارت په نوم یوه واحده اسلامی اداره جوړه اوسم له واره یی دیو حکومت په ځیر شرع الله نافذ کړه. دسیمی مختلفو مجاهدینوته-یې دسیمی د بی دفاع خلکو دامنیت، عزت او آبرو او دسرو مال دحفاظت او ساتنی ذمه واری او مسئولیتونه د یوی اسلامی وجیبی له مخی په غاړه واچول، دخلکو هو ساینی ته د ژوند په مختلفو ساحو لکه تعلیم، بیاودانولو، زراعت او داسی نورو ته خاصه پاملرنه کیده.دافغانستان آزادئ ته دهغه د ژوند د منزل ایله(۸) میاشتی پاتی وی چه هغه له دی نیمگړی دنیا څخه رخصت شو او د افغانستان د آزادی او په دی خاوره دیو کامل اسلامی نظام د راتگ آرمان یی له ځانه سره گورته ویوړ.

هغه به همیشه ټولو مجاهدینو ته په دی ټکی اصرارکاوٚ اوویل به ئی: « کله چی مجاهدین له ملحد رژیم څخه دکومی سیمی او منطقی فتحه حاصله کړی،په سیمه کی د یو منظم اسلامی نظام او قانون د پیاده کولو ضرورت دی، ترڅو په مفتوحه سیمه کی دټولو خلکو دامنیت،آبرو او سرومال ساتنه او حفاظت وشی.» دشهید شیخ ددغه ټکی اصرار دکنړونو په ولایت کی دټول افغانستان لپاره یوه غوره نمونه وه، ځکه په دغه وخت کی ډیرو خلکو داسی فکر کاوٚه چی دکنړ په خلکو چی ټول په ډول ډول وسلو مسلح دی،خنگه څوك کولی شی چی پرته د یومرکزی حکومت له منځ ته راتگ څخه یوازی په یو ولایت کی امن راولی او یو مجرم محاکمه کړی، مگر ددغه فکر کوونکو دغه خیال بالکل معکوس او غلط وخوت. او په کنړ کی د یو کامل امن زمینه مساعده شوه .

ددی امنیت دمنځته راتلو او ټینگیدو کوم بل سیاسی فورمول وجود نه درلود، بلکی د قرآن اوسنت د حاکمیت سبب ؤ چی دټولو خلکو دامنیت، عزت او سرومال د ساتلو ضامن شو. شهید شیخ (رحمه الله) همیشه د قبایلی ډوله نظامونو په ډاگه مخالفت کاوٚه او ټولو مسلمانانو ته یې په یو موټی توب او د یو واقعی او اسلامی اتحاد ترغیب کاوٚ، نوموړی همیشه تنظیم پرستئ ته د شرك په نظر کتل او دا جدا جدا تنظیمونه یې د افغانستان دمسلمان ملت د راتلونکی لپاره یو ناسور گانه.

نن چه د کابل خواشینوونکی او دردوونکی وضعی ته گورو، د شهید شیخ(رحمه الله) ددغه نصیحت عدم موجودیت احساسوو، چی دانن په کابل کی دبی گناه خلکو قتل عام کیږی اودسرو وینو رودونه بهیری، دهغوی سرومال هر وخت په خطر کی پروت دی او نتیجه دا چه دکابل دا نازولی او تاریخی ښار په کنډوالو بدل شو، د مظلوم چغی اوفریادونه هیڅوك هم نه اوری، دظلم مخنیوی نه کیږی، ملی اوشخصی شتمنئ دواړه لوټ او افغانستان د ډول ډول بدبختیو په جال کی نښتی دی. د شهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) هغه ارزیابی گانی چی دقرآن اوسنت دعدم حاکمیت په صورت کی یی کړی وی، نن ټول مسلمان هیواد وال وینی او الله تعالی خبردی چې تر څو به ددغه بدبختیو لړئ روانه وی.روح دی یی ښاد او یاد دی همدغه شان دافغانستان او ټولی اسلامی نړئ دنیکمرغئ لپاره باقی وی!

د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة امیر محترم شیخ سمیع الله د دعوت له مجلی سره په مرکه کی:

د مجاهدینو د بی اتفاقی او اختلاف په وجه په کمونیستانو او ملیشه توا وکړی د نوی ژوندساو چلیده.

د سید عبدالودود په قلم

پوښتنه: جناب شیخ صاحب مهربانی وکړئ د افغانستان د اوسنیو حالاتو په باب رڼا واچوئ او څه فکر کوی چه په هیواد کی د اوسنیو لانجو د حل لپاره څه ده؟

ځواب: د لمر په شان ښکاره او روښانه حقیقت دا دی چه څوارلس کاله وړاندی په افغانستان کی د لادینیت او الحاد په خلاف مسلحانه جهاد پیل شو چه د افغانستان د ولس قاطع اکثریت پکی برخه واخسته او د الله تعالی د کلمی د لوړتیا لپاره یی خپل مسؤلیت په ښه شان سر ته ورساوه. د اسلام او کفر په دغه جګړه کی پنځلس لکه مسلمانان شهیدان شول او پنځوس لکه نور د کمونستانو د ظلم او وحشت په وجه د خپلو کورونو او کلیو پریښودلو ته اړ شول. دوی د سنت نبوی په پیروی د هجرت لپاره ونیوله او د الله تعالی په لارکی یی کړاوونه او تکلیفونه وګالل، د هجرت له ټاټوبی څخه یی د مقدس جهاد لپاره امادګی وکړه او دالله تعالی په کامل نصرت او د خپلو سرونو او مالونو په قربانئ سره یی نه یوازی داچه په هیواد کی د کمونیزم د کفری نظام جړړی وویستی بلکه د کمونیزم اصلی مرکز یی داسی دړی وړی کړ چه مظلوم ملتونه یی د ابد لپاره له شر څخه خلاص شول او دالحاد نظریه چه دالله تعالی څخه په بغاوت ولاړه وه کاملاً له منځه لاړه او حکومتی او دولتی اقتدار یی په ځمکه راپریووت.

خو له بده مرغه په افغانستان کی د تنظیمونو تعدد او دهغو خپل منځی بی اتفاقی، زمونږ د مجاهدینو هغه بین المللی افتخار چه روس ته د شکست او رسوائی او له خپل هیواد څخه د کمونیزم او دهریت د ورکولو په مناسبت یی په برخه شوی ؤ ونه ساته. په افغانستان کی د کمونیزم د سقوط نه وروسته د جهادی تنظیمونو ترمنځ په پیښور کی یوه معاهده وشوه تر څو په کابل کی د احتمالی جګړو مخه ونیول شی او د حکومت چاری په منظم ډول مخ په وړاندی لاړی شی او داقتدار د رسه کشی زمینه برابره نشی خو په تأسف سره وایو چه په دغه معاهدو هم عمل ونه شو او اوس تاسو وینئ او نړیوال ئی هم وینی چه هره ورځ نوی نوی جګړی نښلی او د نویو مسایلو او اختلافاتو سرراښکاره کیږی.

پوښتنه: مولوی صاحب د اختلافاتو اصلی وجه څه ده؟

ځواب: دهیواد د آزادئ نه وروسته د ټولو جهادی تنظیمونو تر منځ د اتفاق او اتحاد د ټینګښت خبری روانی وی چه په دی ترڅ کی څو تنظیمونو په خپل منځ کی معاهده وکړه او نور جهادی تنظیمونه یی شاته وغورزول خو وروسته یی خپل دغه اتحاد هم ټینګ نه کړی شو ځکه هر یو تنظیم د ځان لپاره د اقتدار غوښتونکی ؤ او د اسلام د اعتلاء او د افغانستان د نوی جوړښت اوعمران غم له هیچا سره نه ؤ.

اوس ګورو چه د تنظیمی بی اتفاقئ او شخصی خود غرضیو په وجه ټولو مجاهدینو ته دومره ستونزی پیدا شوی چه په تیرو څوارلسو کالو کی یی ساری نه موندل کیږی. که اختلافات د جګړی او وینو تویولو په ځای د افهام او تفهیم له لاری حل شوی وی نو نه خو به افغانستان تباه شوی وی او نه به د افغان مجاهدینو بین المللی شهرت او مقام ته صدمه

رسیدلی وای، اوس خو تولہ نړۍ دا ناری وهی چه افغان ولس جنګیالی دی او بس، نه د حکومت په کار پوهیږی او نه د مسایلو په حل.

جهادی رهبرانو باید د خپل کفایت او صلاحیت مثال نړۍ ته وړاندی کړی وای او دا ثبوت یی ورکړی وای چه مونږ د جګړی او جهاد په ډګر کی زړور مجاهدین او د شهادت د لوړ مقام لومړنی غوښتونکی یو، خو د مسایلو د حل او د حکومت د چارو د پرمخ بیولو لپاره ځانګړی صلاحیتونه او یو بل ته د زغم او صبر نه ختمیدونکی ذخیره هم لرو. نن زمونږ له بی اتفاقئ څخه کمونستانو او د پخوانی رژیم ملیشه قواؤ د ځان په ګټه ډیره ښه استفاده وکړه. زمونږ د بی اتفاقئ په وجه په دغو غیر اسلامی ډلو کی د نوی ژوند روح پیدا شو خپل موجودیت او قوت یی ثابت کړ او نړۍ ته یی په خپلو هغو دعوو د ثبوت مهرونه ولګول چه ویل به یی مجاهدین جاه طلب او اقتدار طلب دی.

نن دجهادی قوتونو له بی اتفاقئ څخه نه یوازی کمونستانو او پخوانو ملیشه قواؤ ګټه واخسته بلکه د شیعه ګانو په شمول داسی نویو ټولګیو هم د خپل قوت مظاهره وکړه چه خلکو په هیڅ کی شمیرل، خو نن یی پردی ټوپك او راکټ په اوږه ایښی او په کابل کی د خپل اقتدار لپاره د هیچا په سر او مال صرفه نه کوی. یو خوا د ایران له خوا شیعه ګانو ته نظامی مرسته ورکول کیږی او بل خوا د پخوانی رژیم ملیشه قواوی د منځنی آسیا له خوا اکمال کیږی او په دی ډول په غړیدلو سترګو ګورو چه په هیواد کی داسلامی انقلاب او مقدس جهاد د بریالیتوب په خلاف له هری خوا دسیسی او توطیی جوړیږی او نه پریږدی چه د افغانستان ولس د خپل مقدس جهاد میوه وخګی او د اسلامی نظام په سیوری کی ژوند وکړی. که د جهاد رهبران ددغو دسیسو د شنډولو لپاره له دی نه وروسته دغفلت مرتکب شی او بیا هم هر یو دخپل خپل اقتدار په خیالی نیلی سپاره وګرځی، نو لیری نه ده چه دښمنان به کامیاب او اصلی مجاهدین به الله مه کړه رسوا او شرمنده وی.

پوښتنه: د رشید دوستم د ملیشه قواؤ په باب سماسو نظر څه دی؟

ځواب: دا هم د جهادی رهبرانو د بی اتفاقئ وجه ده چه د دوستم، جبار، مؤمن او نادری په شان خاینو کسانو ته یی شخصیت وربخښلی.

زما په نظر که جهادی رهبرانو د پیښور د معاهدی له مخی په حکومت کی برخه اخستی وای او خپل مسایل یی د خبرو اترو او شرعی اصولو له مخی فیصله کړی وای، ولی به د ملیشه او کمونیستانو قوت په کابل کی پاتی کیدی. دوی به تول له یوی مخی له کابل نه شړل شوی وای، په کابل کی به امنیت وای او د چارو واګی به یوازی د مجاهدینو په لاس وای نه به د دوستم ملیشه وای او نه به د جبار او مؤمن او نادری ملیشه.

پوښتنه: د راتلونکی شورا په باب چه غالباً په راتلونکی لنډ وخت کی به جوړه شی ستاسو نظر څه دی؟

ځواب: دهیواد د راتلونکی مشرتابه د ټاکلو لپاره به یوه شورئ جوړه شی چه اسلامی نوم یی د اهل حل وعقد شورا ده. په دغه غونډه کی به د هیواد د ټولو سیمو نومیالی علماء، جهادی قوماندانان، قومی مشران او سپین ږیری او د تنظیمونو نمایندګان برخه واخلی او د هیواد لپاره به داسی یو مشر وټاکی چه ټولو ته به د منلو وړ وی په دی ډول به په هیواد کی د جګړی او وینو تویولو امکانات له منځه لاړ شی او هیواد به د یو مرکزی حکومت له خوا اداره شی.

مونږ د اوسنی حکومت څخه هم په ټینګه غوښتنه کوو چه ددغی شورا د رابللو لپاره ژر تر ژره اقدام وکړی او د هیواد اوسنی مشکلات د قرآن او سنت له لاری حل و فصل کړی.

پوښتنه: که له ملیشه ؤسره په مخلوط حکومت کی د برخی اخستو دعوت در کړی شی آیا و به ئی منئ؟

ځواب: مونږ له کمونستانو سره د مخلوط حکومت د جوړولو مخالف یو، دغه کمونستان که د دوستم ملیشی په بڼه وی او که خلقیان وی، که پرچمیان وی او که د جبار ملیشه وی مونږ به ورسره په حکومت کی برخه وانخلو اومخالفت به ئی وکړو. ځکه د کمونستانو او دهریانو سره جهاد زمونږ د جماعت له اساسی اصولو او اهدافو څخه شمیرل کیږی.

دمحاربو او مسالمو کفارو سره اسلامي رويه او سلوک

له هغو کافرانو سره چه د مسلمانانو سره جګړه نه کوی او یا هغوی په هجرت کولو نه مجبوروی یا دا چه د خپل عداوت عملی اظهار یی نه دی کړی، قرآن پاك داسی هدایت فرمائی:

«لا ینهکم الله عن الذین لم یقاتلوکم فی الدین ولم یخرجو کم من دیارکم آن تبروهم وتقسطوآ إلیهم إن الله یحب المقسطین. إنما ینهکم الله عن الذین قتلوکم فی الدین واخرجوکم من دیارکم وظهروا علی إخراجکم ان تولوهم ومن یتولهم فاولیك هم الظلمون ٥

(الممتحنة -۷-۸)

ترجمه: تاسی الله تعالی له دی کارنه نه منع کوی چه د هغو خلکو سره نیکی او انصاف وکړئ چه هغوی د دین په معاملاتو کی ستاسی سره جنګ نه دی کړی او تاسی یی ستاسی له کورونونه نه یاست ویستلی، الله تعالی انصاف کوونکی خوښووي. هغه (الله) چه تاسی له کومی خبری نه منع کوی هغه دا ده چه تاسی د هغو خلکو سره دوستی وکړئ چه هغوی د دین په معامله کی ستاسی سره جنګ کړی دی او تاسی یی ستاسی له کورونونه ویستلی یاست او ستاسی په ویستلو کی یی له نورو سره مرسته کړی ده. د دغه ډول خلکو سره چه څوك دوستی کوی نو هغوی ظالمان دی.»

له دی حکم نه باید د چا سره دا شبه او شك پیدا نه شی چه دمسالمو یعنی دشمنی نه کوونکو کافرانو سره ښه او نیك چال چلن خو ثابت دی مګر آیا انصاف او عدالت کول هم یواځی د کافرانو د دغی ډلی سره مخصوص دی؟

اوګویا دمعاندو او محاربو کافرانو سره باید بی انصافی او بی عدالتی وشی. خبره داسی نه ده مقصددا دی چه په اصل کی انصاف دلته په یوه خاص مفهوم استعمال شوی دی او مطلب یی دادی چه کوم څوك چه ستاسی سره عداوت او دشمنی نه کوی نو د انصاف تقاضاء دا ده چه تاسی ورسره هم عداوت او دشمنی ونه کړئ، یعنی د دشمن او غیر دشمن سره یو شان چال چلن او رویه کول انصاف نه دی. تاسی ته له هغو خلکو سره د سخت چال چلن دروئي کولو حق دی

چه هغوی ستاسی د ایمان او مسلمانۍ په وجه په تاسی ظلم کوی له وطنه اوهیواده مو په هجرت او بې کورۍ مجبور وی تر هجرت وروسته لا بیا هم ستاسی په تعقیب او زیان در پسی شوی دی.خوکوم خلك او کوم هیوادونه یا قامونه چه په دغه ظلم اصرار نه کوی او مخالف اقدام نه کوی نو انصاف دا دی او دعدالت تقاضاء داده چه تاسی له هغوی سره انصاف او ښه سلوك وکړئ.

د قرأت شوو آیاتونو تر مخه په تیرو آیاتونو کی قرآن له کفارو سره د ترك تعلق هدایت کړی ؤ نو ددی متعلق له چا سره ددی غلط فهمی یا سوء تفاهم امکان ؤ چه گوندی د قرآن د حکم د ترك تعلق وجه دکفارو د کفر وجه ده. ځکه نو الله تعالی په دی آیاتونو کی خبره څرگنده کړه او د حکم تشریح یی وفرمایله چه د دغه ترك تعلق وجه د هغوی کفر نه دی بلکه د اسلام او مسلمانانو سره د هغوی عداوت او ظالمانه چال چلن دی.

نومسلمانان باید د معاند کافر او مسالم کافر یعنی دشمن کافر او غیر دشمن کافر تر منځ فرق وکړی او د کومو کافرانو سره چه د قرآنی احکامو له مخی د احسان اونیکی چال چلن او ښه رویه پکار وی د هغوی سره بد سلوك او ناوړه رویه ونکړی.

د دی احکامو په سلسله کی قرآن عظیم الشان زیاته تشریح هم را کوی او فرمائی.

وقاتلوا فی سبیل الله الذین یقاتلونکم ولا تعتدوا إن الله لا یحب المعتدین. وقتلوهم حیث ثقفتموهم و اخرجوهم من حیث اخرجوکم والفتنة اشد من القتل ولا تقتلوهم عند المسجد الحرام حتی یقتلوکم فیه فان قتلوکم فاقتلوهم کذلك جزآء الکفرین. فان انتهوا فان الله غفور رحیم. وقتلوهم حتی لا تکون فتنة ویکون الدین لله فان انتهوا فلا عدوان إلا علی الظلمین.

(البقرة- ۱۹۰-۱۹۳)

ترجمه: او تاسی د الله په لار کی دهغو خلکو په خلاف جهاد(جنگ) وکړئ چه ستاسی سره جنگ کوی،خو زیاتی مه کوئ. ځکه چه الله جل جلاله زیاتی کوونکی نه خوښوی. په هرځای کی چه د دوی سره ستاسی مقابله راشی نو ورسره وجنگیږئ او له هغو ځایونو نه یی وباسئ چه تاسی یی تری وبستلی وئ که څه هم قتل او وژل بدکار دی خو فتنه تر هغه زیاته بده ده تر څو چه مسجد حرام ته نژدی ستاسی سره جگړه ونکړی نو تاسی هم ورسره هلته جگړه مه کوئ،خو چه هغوی د جگړی نه هلته هم لاس نه اخلی نو هلته ورسره تاسی هم په بی تکلفۍ سره جگړه وکړئ (او وئی وژنئ) د دغه شان کافرانو همدغه سزاء ده بیا چه هغوی له دغه کار (جگړی) نه لاس واخلی نو الله تعالی معاف کونکی او رحم کونکی دی. تاسی د هغوی سره تر هغه وخته وجنگیږئ چه فتنه پاتی نه شی او دین د الله د پاره (خاص) شی. خو که چیری هغوی له جگړی نه لاس واخلی نو (پوه شی چه) لاس اچول او تعدی بی له ظالمانو نه په بل چا روا او جایزه نه ده.

په دی آیت کی ارشاد شویدی چه تاسی د کافرانو سره د هغه وخته پوری جنگ وکړئ چه فتنه پاتی نشی

دعوت

د توحید او جهاد مجله

قل هذه سبيلي ادعو إلى الله على بصيرة أنا ومن اتبعني وسبحان الله وما أنا من المشركين
سورة يوسف (١٠٨)

دامتیاز خاوند: دافغانستان جماعة الدعوة الى القرآن والسنة
مؤسس: امام الجهاد شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله)
سرپرست: الشیخ سمیع الله
خپرونکی اداره: ددعوت او ارشاد ریاست

پنځم کال- پرله پسې (٢٤) ګڼه -١٤١٣هـ ق کال دربیع الاول او ربیع الثانی میاشتې د ١٣٧١هـ ش د سنبلې او میزان میاشتې

دهیئت تحریر تر نظارت لاندې

احمد شاه (وحدت)
Ahmad Shah (Wahdat)
A. K. P. O.

په پاکستان کی د
ګډون بیه:
میاشتنی: ١٠کلداری
کلنی: ١٠٠کلداری

په نورو بهرنیو هیوادونوکی د
ګډون بیه:
میاشتنی: ٢ امریکائی ډالر
کلنی: ١٠ امریکائی ډالر

به داخل او به پاکستان کی زمونږ نمایندګان

په داخل کی: لعل محمد «افسوس»
اسلام آباد: عفیف احمد
پیښور: غنی الله «مسلم»
لاهور: حماد شاکر
کراچی: چوهدری ظهور احمد
کوئټه: عرفان منګل
مظفر آباد: بشیر قریشی

به نورو بهرنیو هیوادونوکی زمونږ نمایندګان

سعودی عرب: فیضان الله
امریکا: عبدالرحمن احمد
بریطانیا: منور علی
جرمنی: وانی - ایم حمیم
هالینډ: عماد الدین بکری اسماعیل

ددی ګڼی مطالب

(عنوان)	مخ
* سرمقاله	٢
* مؤمن پیژندنه د قرآن او سنت په رڼا کی	٦
* تعلیمات اسلامی	١١
* د افغانستان راتلونکی حالات د	١٤
* د جماعة الدعوة الي القرآن والسنة له امیرسره مرکه	١٦
* د محاربو او مسالمو کفارو سره	١٨
* د میلاد النبي محافلو ته یوه کتنه	٢١
* دکنړونو د اسلامي امارت له نائیب امیر سره مرکه	٢٤
* د جهاد مرحلې	٢٩
* دښمن مو و پیژنئ	٣٢
* غوره وینا وې	٣٥
* شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) د	٣٦
* ستاسو پوښتنی د قرآن او سنت په رڼا کی	٥٢
* د لیکونو بهیر	٥٤

کمپوزر او دیزاین: ع-ب- «ګلاب»

مکاتباتی پته: «دعوت مجله» - پوست بکس نمبر ٦١٤ پشاور پاکستان

بانکی حساب: جماعة الدعوة الى القرآن والسنة - اکاونټ نمبر ١٩٤٦٥ - حبیب بینک کینټ - صدر روډ - پشاور.

او دین د الله تعالی د پاره خاص شی.

اوهم ددی آیت نه په وړاندینی مضمون کی هدایت شوی دی چه د مؤمنانو جنگ باید د انتقام د تندی د لیری کولو لپاره نه وی، د مؤمن صفت باید دا وی چه د یو سخت مجرم، گناه هم معاف کړی خو په دی شرط چه دغه مجرم دخپل باغیانه عمل او ناوړه چال چلن نه راوگرځی. او رسول الله صلی الله علیه وسلم په دی لړکی هدایت فرمائی چه:«تخلقوا باخلاق الله» یعنی خپل اخلاق د الله له اخلاقو سره سم کړئ ځکه چه د الله تعالی صفت عفو او مغفرت دی.

د وروستی آیت د بیان د اسلوب او طریقی نه څرگنده ده چه دلته د فتنی له عبارت نه مقصد هغه حالت دی چه په هغه حالت کی «دین» د الله په ځای دبل چا د پاره وی او د جگړی کولو مقصد او هدف د فتنی لیری کول وی.

چه دین د الله د پاره خاص شی. د «دین»دعبارت له څیرنی نه معلومیږی چه په عربی ژبه کی د دین معنی «اطاعت» دی او اصطلاحی معنی یی د ژوند هغه نظام دی چه څوك اوچت وگڼل شی او بیا د هغه د حکمونو او جوړو شویو قوانینو پیروی کوی. نو د دین د تشریح نه معلومیږی چه د انسانی معاشری او ټولنی هغه حالت چه په هغه کی انسان په انسان باندی د خدای الوهیت حمکرانی کوی او ددغه انسان د خپل فکر او خپل نظر د جوړشوی قانون په اطاعت انسانان مجبور کړی او د الله د قانون سره سم ژوند کول ممکن نه وی نو دغه حالت د «فتنی حالت» وی او اسلامی مقدس جهاد ددغه حالت دلیری کولو او محوه کولو د پاره دی او دا چه د دغی فتنی په ځای داسی حالت منځ ته راشی چه بنده صرف او یوازی د الله تعالی د قانون تابع وی.

د آیت په پای کی د «فان انتهوا» نه مطلب دا نه دی چه کافران د خپل کفر او شرك نه را وگرځی بلکه د هغوی د راگرځیدونه مقصد دفتنی نه لاس اخستل او بیرته راگرځیدل دی. په اسلامی نظام کی کافر ته دا حق شته چه په خپله عقیده ژوند وکړی. په اسلامی نظام کی به دغه کافر له گمراهی نه دنصیحت او وعظ او تبلیغ په ذریعه را ویستل کیږی او جنگ به ورسره نه کیږی. خو په اسلامی نظام کی اوسیدونکی کافر ته یا په دنیا کی بل چا ته هیڅکله دا حق نشته چه د الله په ځمکه باندی د الله د قانون په ځای څه بل باطل قانون جاری کول وغواړی او د الله تعالی بندگان د بل چا بندگی ته اړ باسی. دغه حالت ته قرآن «فتنه» وائی او د دغی فتنی د مخنیوی د پاره به مؤمنان د تبلیغ او وسلی دواړو وسیلو په ذریعه جهاد کوی او مؤمنان به تر هغه وخته په آرام نه کښینی چه څوئی کفار د فتنی نه راگرځیدو ته مجبور کړی نه وی او چه راوگرځی نو دوی به هم تری په آرام شی.

او بیا فرمائی چه کوم وخت چه هغوی د خپل دغه ناوړه کار یعنی «فتنی»نه راوگرځی نو بیا «بی له ظالمانو په بل چا باندی د لاس پورته کولو اجازت نشته»

د میلاد النبي محافلو ته یوه کتنه

د اسلامی هجری کال لومړی میاشت محرم الحرام ده چه له بده مرغه له ډیر ی زمانی را پدیخوا د نویو نویو بدعاتو ښکار شوی ده، همدغه شان د ربیع الاول مبارکه او مقدسه میاشت هم د اسلام د ناپوهو دوستانو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د محبت او عقیدت د درواغجنو مدعیانو او د شرك او بدعت د رضاخانی انحرافاتو په وجه د خپل اصلی مقام او حیثیت نه لیری، د داسی اعمالو او افعالو د میاشتی په حیث اعلان شوی چه له قرآن اوحدیث سره یی د ذری په اندازه هم اړیکی نشته.

څومره چه دصفرالمظفر دمیاشتی وروستی ورځی پای ته رسیږی، د ربیع الاول میاشت د خپل تاریخی مقام او ارزښت سره د بشریت د لارښود د.اسلام د ستر پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره د عقیدت، محبت او معرفت د تجدید له پیغام سره، د غفلت په خوب ویده اسلامی امت ته د پیغمبر په سیرت او تعلیم د پوره عمل کولو دعوت وړاندی کوی خو ساده لوح مسلمانان دی چه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په هداياتو او تعلیماتو باندی د عمل کولو په ځای داسی مراسم او دودونه او اعمال سرته رسوی چه د قیامت په ورځ د اسلامی امت لپاره د تباهی باعث کیږی.

د مثال په توگه د ربیع الاول په لومړیو شپو ورځو کی د پیغمبر د ذکر او اذکارو د غونډو جوړول، د کافوری شمعو د قندیلونو روښانه کول، د مجلسونو لپاره د گلونو غنچی جوړول او خلکو ته دا تلقین ورکول چه پیغمبر اسلام پخپله په دی غونډه کی دگډون لپاره تشریف راوړی، د دود دستور او بدعت هغه کارنامی دی چه په اسلامی امت کی یی رواج موندلی دی او ظلم خو لا دا دی چه د خپلو دغو بدعتی کارنامو د تائید او تصدیق لپاره

درواغجن او له حقیقت څخه لیری روایات او د بی سوادو او ناپوهو خلکو ذهن ته په اسانئ سره پریوتونکی خود ساخته قیصی وړاندی کوی چه ثبوت یی نه د نبوی نیکمرغه عصر نه وروسته په دریو پیړیو کی لیدل کیږی او نه له هغه نه وروسته کوم امام او فقیه،محدث اومحقق وړاندی شخصی نظریه ورکړی ده.

د میلادالنبی تاریخ :-

د پیغمبر صلی الله علیه وسلم دمبارك میلاد دتاریخ په باب شدید اختلاف موجوددی، دځینو څیړونکو په عقیده د میلاد تاریخ ۱۲ د ربیع الاول دی خو نور زیات شمیر محققین په دی عقیده دی چه دنیکمرغه میلاد تاریخ (۹) د ربیع الاول دی لکه څنګه چه دعلامه ابن تیمیه، ابن قیم، حافظ ابن حجر او ابن کثیر رحمهم الله نه علاوه د هند مشهوردینی علماء لکه قاضی سلیمان منصور پوری، مولانا ابوالکلام آزاد او ستر معاصر محقق مولانا صفی الرحمن مبارکپوری هم د میلاد النبی لپاره(۹)د ربیع الاول نیته لیکلی او تائید کړی ده.

د سیرت النبی لیکونکی علامه شبلی نعمانی لیکلی دی چه:

دمصرمشهور ریاضی پوه محمود پاشا فلکی د ریاضی د دلایلو په اساس همدغه تاریخ ثابت کړی دی.

په دی کی هم شك نشته چه۱۲د ربیع الاول د پیغمبر علیه السلام د وفات تاریخ هم دی چه ددغه تاریخ په ټاکلو کی غالباً هیڅ اختلاف نشته.

اوس د لومړی نظر له مخی څنګه چه ۱۲د ربیع الاول د وفات او میلاد ورځ ده نو په دغه ورځ یوازی د جشنونو جوړول به څنګه توجیه کیږی، دا خو د عقل خبره نه ده چه د غم او ماتم ورځ دی په جشنونو ونمانځل شی. تقاضاء خو دا ده چه د میلادالنبی مبتدعین په دغه میاشت یا په دغه ورځ د خوښئ د محفلونو سره سره د غم او تاثر اظهار هم وکړی خو دلته کار بلکل برعکس دی. دغه مفهوم مولانا آزاد په خپلو لیکنو کی داسی بیان کړی دی:«که ددی میاشتی راتګ ستاسو لپاره د جشن او خوښئ پیغام دی ځکه چه په دی میاشت کی هغه شخصیت نړئ ته راغی چه مونږ ته یی هر څه راکړل، نو زما لپاره د دی نه زیاته بله بدمرغه او غمجنه میاشت نشته ځکه هغه شخصیت چه په دی میاشت کی نړی ته راغلی ؤ او مونږ ته یی هر څه راکړی وو، مونږ ټول له لاسه ورکړل.

په دی وجه که دا میاشت له یوی خوا د پیغمبر یاد تازه کوی نو بل خوا پکار دا ده چه مونږ هغه تعلیمات او لارښوونی هم را په زړهٔ کړو چه د اسلام پیغمبر مونږ ته را بخښلی وی او مونږ ورڅخه غفلت وکړ او له لاسه موورکړی.»

عجیبه خو دا ده چه ددین سطحی مطالعه کوونکی او د غربی جذباتو د تاثیر لاندی راغلی مسلمانان له یوی خوا دحسین رضی الله عنه د شهادت په غم کی د ویر او ماتم داسی آسمان په سر را پری باسی چه د محرم الحرام ټوله میاشت

د تکلیف او درد، غم او مصیبت او ویر او ماتم د میاشتی په نوم و بولی او داسی وانګیری چه ګوندی همدا لار د فوز او فلاح، کامیابی او کامرانی او دجنت د حصول سبب کیږی نو بل خواته دغه ساده لوح مسلمانان د ځینو ناپوهو علماؤ په سرکردګۍ د اسلام د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د میلاد په مناسبت ټوله میاشت چراغان او جشنونه جوړوی چه ته به وائی همدغه میاشت او همدغه اعمال د نبوی شفاعت د حصول سبب ده او بس.

نه یوازی دا چه د میلاد په مناسبت د جشنونو جوړولو ثبوت د نبوت دعصر نه وروسته په دریو لومړنیو پیړیو کی چه نیکمرغی پیړی ګڼل کیږی نه لیدل کیږی او نه یی مثال د خلفای راشدین او صحابه ؤ کرامو په عصر کی شته. بلکه ددغو غیر شرعی مراسمو موجد او بنسټ ایښودونکی داسی شخص دی چه نه فقیه نه محدث او نه کوم بل دینی لوړ رتبه شخصیت دی بلکه دغه سړی دموصل یوسینګار کوونکی او ځان جوړوونکی شاه مظفرالدین کوکبور بن اربل ؤ چه په ۶۲۰هـ کال مړ دی.

هغه ساده لوح کسان او نه پوهیدونکی علماء چه د میلادالنبی په مناسبت د جشن او چراغان په جوړولو اصرار کوی خلکو ته دا تلقین ورکوی چه دغه جشن او چراغان له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د محبت او عقیدت څرګندوی دی او په دی ډول دخپل یو کال هغه مسؤلیتونه او ذمه وارۍ چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تعلیماتو او هدایاتو په وړاندی یی لری غواړی په یوه ورځ (عیدمیلادالنبی) کی یی سرته ورسوی په داسی حال کی چه له پیغمبرصلی الله علیه وسلم سره رښتونی محبت او عقیدت خو دا دی چه د هغه هر قول او فعل د خپل ژوند د لاری مشال کړو او له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دمینی او اخلاص او عقیدت او احترام د لرلو لپاره باید د اصحاب کرامو روش او سلوك خپل کړی شی، هغه اصحاب چه خپل ټول ژوند او محبت ئی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وقف کړی ؤ.له پیغمبر سره دمحبت او عشق معنی خو داده چه باید مؤمن شخص په هر وخت او هر حال کی دخپلو قربانیو سره د پیغمبر اسلام د احکامو او هداياتو تطبیق ته ملاتړلی ولاړ وی. له پیغمبر سره محبت خو هغه ؤ چه د احد په میدان کی د بشریت د لارښود د حفاظت لپاره د هغه سرښندونکو اصحابو څرګند کړ. له پیغمبر سره محبت خو هغه ؤ چه پاکو اصحابو او سلفو صالحینو به د هغه په یوه اشاره د قربانی ډګر ته ځان وړاندی کاوه او د اسلام د مقدس دین د اعتلاء لپاره به د هر کفری طاقت مقابلی ته لکه د فولادی غر په شان ولاړ وو.

د کونړ و نو د اسلامی امارت له نائب امیر محترم مولوي صاحب عبدالرحمن سره مرکه

پوښتنه: محترم مولوی صاحب! مهربانی وکړئ د کونړ د اوسنۍ وضعی په باب معلومات راکړئ؟

ځواب: بسم الله الرحمن الرحیم.

د کونړ د ولایت وضعه الحمدلله نن سبا ډیره ښه ده او حالات د اسلامی امارت د مجاهدینو په پوره کنټرول کی دی.

په یوه اسلامی معاشره کی مهم کار د الله تعالی د حکم تطبیق او بیا په سیمه کی د امنیت راوستل دی چه الحمدلله دا دواړه اهداف د کونړ په ولایت کی په ښه شان سرته رسیدلی دی.

برسیره پردی له سیمی نه د غلو، ډاکوانو، اجرتی قاتلانو او ورانکارو لاسونه لنډ کړای شوی او د سیمی خلك په یوه آزاده اسلامی فضاء کی ژوند تیروی. د دی تر څنګ اسلامی امارت پدی نژدی ورځو کی وکولای شول چه یوشمیر قاتلان او تخریبکاران اسلامی محکمی ته وړاندی کړی چه دوی ته به له شرعی فیصلی سره سم سزا ورکول کیږی. په لنډ ډول ویلی شو چه د افغانستان په روانو حالاتو کی کونړ یواځنی ولایت دی چه پوره امن او شرع الله پکی عملاً تنفیذ دی او د جهاد او بی شمیره قربانیو ثمره او حاصل دی چه د کونړ اوسیدونکی تری الله تعالی بهرمند کړی دی.

مونږ د بیا آبادولو په سلسله کی د دغه ولایت دبریښنا د انرژۍ سیستم چه دبعضو تخریب کارانوله خوا ویجاړ کړی شوی ؤ دوباره فعال کړی او زیاتو سیمو ته مو بریښنا رسولی ده.

تر اوسه ددغه برقی سیستم صرف یو ماشین فعال کړای شوی دی، البته که ددغه ماشین دوهم جنراتور فعال کړای شی انشاءالله د کونړ د ولایت زیاتره برخی به د بریښنا له انرژۍ نه برخه منی شی.

همدا شان د لارو د جوړولو اود پلونو دبیاآبادولو کارونه هم په ډیره چټکۍ سره پر مخ روان دی چه تر ډیره حده دولایت لوئی لاری او پلونه دوباره ترمیم کړی شوی دی.

خیریه مؤسساتو ته د کار کولو ټول وسایل او امکانات د اداری لخوا برابر شوی دی او دوی د اسلامی امارت له برکته د امنیت په فضاء کی د منطقی په جوړولو بوخت دی. د یادونی وړ ده چه کنړ د لشکرکشۍ نه وړاندی ښه جوړ شوی ؤ او توجه هم ورته ډیره وه مگر د لشکرکشۍ نه وروسته د تخریب شوو پروژو دوباره آبادول شروع شوی دی.

پوښتنه: په کونړ ولایت پوری د مربوطو مهاجرینو د بیرته ستنیدلو لپاره مو څه تدابیر نیولی دی؟

ځواب: د کونړ د ولایت د مربوطو مهاجرینو لپاره مو د مهاجرینو د بیرته ستنیدو په نوم فورمی چاپ کړی دی، کوم کسان چه خپل ولایت ته راستنیږی دغه فورمی به ډکوی او مونږ به ورسره د خپل توان په اندازه لاس امداد کوؤ، البته لویه مسئله د

دغو مهاجرینو د بیاآبادولو ده، چه دغه کار د اسلامی امارت له توان نه پورته کاردی، ځکه هلته کورونه او کلی ویجاړ شوی، فصلونه تباه شوی او په اکثرو سیمو کی د کمونستانو له خوا ماینونه شیندل شوی، چه دغه کار د بین المللی کمیټو او اسلامی هیوادو د مرستی او همکارئ ایجاب کوی.

پوښتنه: د بیا آبادولو خیریه مؤسسات وائی چه په کنړ کی شل ملیونه ډالره مصرف شوی دی ستاسو نظر څه دی؟

ځواب: دا د هغه وخت خبره ده چه شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) ژوندی ؤ شهید مشر پدی لړ کی د خیریه مؤسسو سره خبری کړی وی او له خیریه مؤسسو نه یی خواهش کړی ؤ چه کوم مصارف چه د کونړ د ولایت په نوم زاځی باید دامارت اسلامی سره تماس ونیول شی او وروسته بیا مصرف شی خو متأسفانه دخیریه مؤسسو اکثر کارونه د بعضو یاغی قومندانانو په رابطه کیدل.

کیدای شی چه یوه اندازه رقم مصرف شوی وی او څه یی هم غبن شوی وی، په لنډ ډول ویلی شو چه د مذکوره رقم دمصارفو آثار کم په نظر راځی.

پوښتنه: اسلامی امارت د کونړ د ولایت د ځنګلاتو د تحفظ په هکله څه اقدامات کړی دی؟

ځواب: د کونړ ولایت په کومو ساحو کی چه د امارت اسلامی کنټرول دی هلته هیچا ته اجازه نه ورکول کیږی چه ځنګلاتو ته څه زیان ورسوی ځکه ځنګلونه د افغانستان لویه طبیعی سرمایه ده، البته په کومو سیمو کی چه د امارت اسلامی له کنټرول څخه بهردی،ځنګلاتو ته زیات زیان رسیدلی دی او زیاتره زمونږ ګاوندی هیواد پاکستان ته انتقال کیږی. خو بیا هم مونږ پدی کوښښ کی یو چه د هیواد ددغی لوئی ذخیری د تباهی مخه ونیسو.

پوښتنه: په پاکستان کی د کونړ د ولایت داسی مهاجرین موجود دی چه د امارت اسلامی سره یی څه تعلق نشته که دغه مهاجرین واپس خپل کور کلی ته راشی د امارت اسلامی برخورد به له دغو مهاجرینو سره څه ډول وی؟

ځواب: امارت اسلامی د کوم خاص تنظیم او حزب په نوم نه دی او نه هر سړی په دی مکلف دی چه خامخا به له امارت سره بیعت کوی، د حضرت عثمان رضی الله عنه په دور کی صرف شپږو کسانو له هغه سره بیعت کړی ؤ ، دا ضروری نه ده چه د کونړ هر سړی به له اسلامی امارت سره بیعت کوی، مونږ ټولو ورونو ته د قدر په سترګو ګورو، هغوی زمونږ ورونه دی او اسلامی امارت د هغوی په مقابل کی مسؤلیت احساسوی. اسلامی امارت د ټولو لپاره د خیر ځای دی او مونږ غواړو چه دغه امارت د ټولو د خیر سبب وګرځی. اسلامی امارت پدی مؤظف دی چه د هر چا د امنیت، د ځان، مال او عزت ساتنه وکړی او دوی ته سوکاله ژوند مهیا کړی. البته کوم ورونه چه کنړ ته واپس کیږی باید چه هلته د اداری نظام مراعات وکړی، امنیت خراب نه کړی او د اسلامی وروګلوی په فضاء کی ژوند تیر کړی.

پوښتنه: په کابل او جلال آباد کی د کنړ یو شمیر خلك اوسیږی او غواړی چه کنړ ته راشی ستاسو موقف پدی هکله څه دی؟

ځواب: اسلامی امارت ټول امور د شرعی تعلیماتو په رڼا کی حل کوی دا مسئله هم د اسلامی امارت قضاء

ته تللی او څه شرایط یی طرح کړی دی، په دی کی یو شمیر داسی افراد دی چه خلکو ته یی درد او تکلیف رسولی دی او یو شمیر عادی خلك دی امارت کوشش کوی چه هر چاته امنیت اوتحفظ ورکړی عام ذهنیتونه ددی خلکو په وړاندی ښه نه دی.

پوښتنه: ویل کیږی چه بی شمیره وسلی دکنړ او جلال آباد له لاری پاکستان ته د قاچاق په ډول رانقل کیږی، آیا د احقیقت دی، که حقیقت وی تاسو یی د مخنیوی لپاره کوم اقدامات کړی؟

ځواب: دوسلو انتقال مونږ په قانونی توګه منع کړی دی او خپلو قومندانانو ته مو هم پدی هکله خبر ورکړی دی، تر نن وخته پوری کومه وسله په قانونی توګه پاکستان ته نده نقل کړی شوی، البته کیدای شی چه قاچاقبران د هغو لارو څخه استفاده کوی چه هلته د امارت اسلامی کنټرول نه وی.

پوښتنه: آیا د کونړ د ولایت له معدنی ذخایرو لکه بیروج، مرمر او داسی نورو څخه امارت اسلامی ته څه فائده رسیدلی که نه؟

ځواب: دکونړ د ولایت له معدنیاتو نه امارت اسلامی ته تر اوسه کومه فائده نه ده رسیدلی، البته عامو خلکو ته یی څه ناڅه فایده رسیدلی ده، اسلامی امارت پدی حقله د حالاتو د ناسموالی په بنیاد کوم اقدام نه کوی. کوم معدنیات چه د کوم ګروپ یا قوم سره دی هماغوی تری ګټه اخلی.او بیت المال ته یی ګټه نه رسیږی.

پوښتنه: یو کال تر مخه د کونړ د ولایت په مرکز (اسعدآباد) کی یوه چاودنه شوی وه ددی حقیقت څرنګه وه؟

ځواب: واقعه څه داسی وه چه پدغه ورځ زه او حاجی روزی خان په توپچی کی ناست وواو په څه مسایلو مو بحث کولو چه دا واقعه وشوه، پدغه وخت کی خلکو مختلفی خبری کولی، چا ویل چه مونږ د جلال آباد له لوری یوه لمبه ولیده چه د اسدآباد په بازار ولګیده، چا یو څه ویل او چا بل څه ویل، مونږ هم د خلکو د وینا مطابق اعلان وکړ چه دا چاودنه دکمونستانو له خوا دسکډ ویشتلو په سبب وشوه.

او دا خبر په رغیت سره نشر شو پدی کی اداری ته د تحقیق کولو فرصت حاصل نشو ځکه په اسدآباد کی ورکوتی قیامت برپا شوی وه، بازار اکثره تخریب شوی وه. هری خوا د انسانانو غوښی خوری وی او بی شمیره زخمیان وو، مونږ د مړو او زخمیانو په غم کی وو او ددی موقع نه وه چه دحادثی پوره پلټنه وکړو وروسته بیا څرګنده شوه چه دا سکډ نه بلکه یو قوی تخریب ؤ چه د اسلامی امارت د مخالفینو لخوا شوی ؤ او پدی حقله څه ثبوتونه هم پلاس راغلی دی او شواهد هم موجود دی.

او بله مسئله دا ده چه په دغه سیمه کی د پخوا نه څه اندازه باروت په ذیرخانو کی پراته وو چه د زیاتی تباهی سبب شول دا موضوع به پخپل وخت سره عواموته وړاندی شی انشاءالله.

پوښتنه: نو بیا مو ولی دغه کسان ندی نیولی؟

ځواب: هغوی له دی جنایت وروسته وتښتیدل چه د اسلامی محکمی د کنټرول څخه خارج دی.

پوښتنه: تیر کال دا وخت د کنړ د ولایت په اسلامی امارت باندی د اجانبو لخوا لشکرکشی وشوه مهربانی وکړئ د دغی لشکرکشی پحقله معلومات وفرمائی؟

ځواب: د تیر کال د حوادثو او په کونړ ولایت باندی د لشکرکشی او په دغه ولایت کی دلوټ مار، ورانکارئ، اودبی گناه خلکو دوژ لو له داستانونو نه نن سبا اسلامی امت دافغانستان، مسلمان ملت او په تیره بیا د کونړ د ولایت اوسیدونکی په ښه ډول خبر دی او حقائق هر چاته ښکاره شوی دی زما په نظر د دی واقعاتو د بحث تکرار ته به څه ضرورت نه وی.

پوښتنه: محترم مولوی صاحب! تاسو د کمونستو عناصرو د سرنوشت په باب څه فکر کوئ؟

ځواب: کله چه یو واقعی اسلامی نظام په افغانستان کی برسر اقتدار شی او امنیت قایم شی دغه اسلامی حکومت چه بیا د کمونستانو سره څه فیصله وکړه، دوی به پکی شامل وی.

پوښتنه: د افغانستان په سطحه خو ټولو کمونستانو ته د گلم جم ملیشو په شمول عامه معافی شوی ده نو تاسو یی ولی نه معاف کوئ؟

ځواب: د معاف کیدو طریقه خو دا نه ده لکه تاسو یی چه گورئ. د معاف کیدو طریقه خو دا وی چه یو امیر وی، شریعت وی او هغه خلکو ته معافی ورکړی، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دور کی به خلکو ته معافی ورکړی کیده خو صرف کفارو ته، نه مرتدینو ته،مرتدین به د معافئ قابل نه ووځکه هغوی دین پریښی ؤ، د رسو ل الله صلی الله علیه وسلم په دور کی چه کله مکه فتح شوه د هغه وخت مرتدین ټول قتل کړی شول او هغو کفارو ته چه اسلام ئی قبول کړو معافی ورکړی شوه، کوم خلك چه د معافی وړ وی هغوی ته به د قرآن او سنت په رڼا کی معافی ورکول کیږی.

پوښتنه: آیا د امارت اسلامی په سطحه تاسو دکابل له عبوری حکومت سره رسمی تماس نیولی؟

ځواب: دا چه د کابل وضعه ډیره زیاته خرابه ده او د تنظیمونو تر منځ خپل منځی جگړی روانی دی، په دغه وجه د کابل د اوسنی حکومت سره مونږ کوم رسمی تماس نه دی نیولی.

پوښتنه: د کابل حالات نن سبا ډیر زیات کړکیچن دی، ستاسو له نظره دا حالات به تر کومه دوام ولری او دحل لاره یی څه ده؟

ځواب: د کابل حالات زمونږ اعمال وو چه په مونږه مسلط دی تر څو چه مونږ الله تعالی ته په اخلاص رجوع ونه کړو، نیتونه مو صاف نه شی او اعمال او عقاید مو اصلاح نه شی دغه وضع به جریان ولری،دجهاد شهید امام شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله)د داسی وضع پیشگوئی کوله، هغه به تل جهادی مشرانو ته توصیه کوله چه صرف د الله تعالی رضاء په نظر کی ونیسئ، یوصف شی،اختلاف پریږدئ.

د مجاهدینو د عقایدو په تصحیح او د اعمالو په اصلاح کی کوشش وکړئ، هغه (رحمه الله) نیمایی ژوند د دوی په یوالی کی صرف کړ. له ډول ډول لارو به ئی هڅه کوله چه دا پراگنده صفونه یو کړی مگر کله هم دوی په اخلاص سره متحد شوی نه دی چه بالآخره هغه مأیوس شو او خپل پخوانی د انبیاؤ دعوت یی بیا را ژوندی کړ، مگر هغه یی هم خپل دعوت ته په آرام پرینښود او تل به یی ورته مشکلات ایجادول، دهغه په ژوند او د هغه تر شهادت وروسته جماعةالدعوة الی القرآن والسنة هم دا هڅه کړی او کوی ئی چه له ټولو مجاهدینو سره دی تفاهم صورت ومومی،د اخوت او ورورگلوی په فضاء کی دی یو د بل سره ژوند وکړی، مگر آخر هم په اسلامی امارت لشکرکشی وشوه او ددغه ډول جنایاتو

مرتکب شول.

پوښتنه: د پیښور معاهده ستاسو له نظره څرنګه وه؟

ځواب: په حقیقت کی دا د الهی شریعت شکل نه ؤ . په اسلام کی دا نشته چه نن فلانی امیر او سبا فلانی امیر وی، شرعاً باید یو امیر وی او اسلامی امت وریاندی راټول شی تر څو چه شرعی موانع نه وی، له هغه سره باید بیعت وشی، له غیر اسلامی لارو څخه کله هم د افغانستان معضله نه شی حل کیدای، بله دا چه د پیښور معاهده هم مکمله نه وه او خلاوی ورپکی وی. اوه تنظیمونه پخپلو کی پدغه معاهده راضی شول جماعة الدعوة او څه نورووونو سره مشوره پدی حقله نه ده شوی. زمونږه مشرانو ته پراخ نظر پکار دی.د افغانستان د مسلمان ملت د سرنوشت په جوړولو کی د ټولو.جهادی قوتونو حق دی.

پوښتنه: دکابل روان حالات څرنګه تحلیلوئ؟

ځواب: د کابل روان حالات یو وحشت دی. بی ګناه خلك د مدرنو راکټونو هدف ګرځول، ملی شتمنی تباه کول، عامه وژنه ..... ددی لپاره هیڅ شرعی عذر وجود نلری او په کلکه یی محکموو د دی په نتیجه کی اسلامی حکومت نه راځی بلکه زمینه غیراسلامی حکومت ته برابریږی دجهاد روح په نړۍ کی ماتیږی اسلامی تحریك بدنامیږی، او علمانی قوتونو ته لاره هواریږی، زه نه پوهیږم چه ددی جنګ څخه هدف څه دی؟

زمونږ له نظره ټول کمونستان مردود دی دا که خلقیان وی او که پرچمیان وی، مونږ د ټولو اطرافو څخه په کلکه غوښتنه کوو چه دالله تعالی څخه وویریږئ اسلام او جهاد ته د نقصان رسولو څخه پرهیز وکړئ. او دا جنګ ختم کړئ، کومه معاهده چه دوی په پیښور کی کړی وه، په هغی باندی دی عمل وکړی او وسعت دی پکی راولی.

پوښتنه: ویل کیږی چه د جماعة الدعوةالی القرآن والسنة په دعوتی کارونو کی کمزوری راغلی ده دا واقعیت څرنګه دی؟

ځواب: په کابل کی د قدرت د انتقال نه وروسته بیرونی کومکونه چه د جهاد په نوم راتلل، ختم شوی دی. او بله وجه دا هم ده چه اوسنی جنګ اسلامی نړۍ له ناامیدی سره مخامخ کړی ده، نو تبرعات کم شوی دی او له دی څخه ټول تنظیمونه متاثره شوی دی. جماعة الدعوة هم متاثره شوی دی، البته دعوت جریان لری او ددی جماعت افرادو ددی تعهد کړی دی چه پخپلو وسایلو به د انبیاء کرامو او سلفوصالحینو لاره ژوندی وساتی، کوم دریځ چه امام الجهاد والدعوة الشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) خپل کړی ؤ هماغه دریځ به ساتی، او کله به هم پدی لاره کی ستومانی نه حس کوو، دا د عقیدی جماعت دی کوم سیاسی اغراض نلری او نه د حالاتو او شرایطو په اساس منځته راغلی دی نو کله هم کمزوری کیدای نه شی.د اسلام او دعوت دشمنانو ډیر کوششونه وکړل چه دا جماعت نابود کړی حتی چه ددی جماعت محبوب مشر یی هم په شهادت ورسیده مګر دشمن خپل مطلوب حاصل نه کړو بلکه د شهیدانو آرمان تر سره دی چه دا جماعت نور هم فعال اومنظم دی، مالی مشکلات که رامنځته کیږی انشاءالله د متبادلو طریقو کوشش به کوو او پخپلو سرښندنو او قربانیو به دا مشن او منهج جاری ساتو.

(ومن الله توفیق)

د جهاد مرحلې

ابن قیم رحمة الله علیه په زاد المعاد کی یو باب لیکلی چه عنوان یی دی «له بعثت څخه تر وصال پوری د کفارو او منافقانو سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم رویه او تگ لاره څنگه وه؟»

په دغه باب کی نوموړی عالم په حقیقت کی د جهاد فی سبیل الله د تحریك او نهضت داسی لنډیز بیان کړی دی.

«ترهر څه دمخه چه الله تعالی خپل رسول صلی الله علیه وسلم ته کومه وحی نازله کړه هغه دا وه چه «**إقرأ باسم ربك الذی خلق...**» یعنی دغه الفاظ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د الله تعالی له خوا درسالت دسپیڅلی او درندی وظیفی د ورسپارلو او دنبوت دآغاز او پیل حکم ؤ.

الله تبارك وتعالی هغه ته حکم وکړ چه دغه وحی په خپل زړهٔ کی لوله. نورو خلکو ته یی ددغی وحی د تبلیغ حکم لا تر اوسه ورنکړ.

بیا یی ورته حکم ورکړ چه «**یایها المدثر قم فانذر**» نو معلومه شوه چه الله تعالی په تدریج سره لومړی خپل پیغمبرحضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته د «**اقرأ**» په وحی کی د نبوت سپیڅلی او لوړمنصب وسپارهٔ او د «**یایها المدثر**» په ارشاد سره یی هغه ته د رسالت سپیڅلی او درنده وظیفه وسپارله. وروسته یی ورته حکم وفرمایه چه خپل نزدی خپلوان او د کورنۍ افراد دي د الله تعالی په الوهیت او وحدانیت باندی خبر کړه او هغوی وویروه او حذر ورکړه چه د الله له وحدانیت نه انکار ونکړی چه د عذاب او د دغه کار د بدو او ناوړو عواقبو سره مخامخ نه شی.

نو ځکه یی ارشاد وفرمایه چه «**وأنذر عشیرتك الأقربین**» همدغه وجه وه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اول خپل خپلوان او خپل قام د پاك او احداو یگانه بی مثاله پروردگار په الوهیت او خدایی باندی خبر کړل بیا یی د خپل تبلیغ او ابلاغ لمن د مکی دشاؤخوا عربو ته وغزوله او بیا یی ټولو عربو ته د الله تعالی احکام ورسول او هغوی یی د کفر او شرك له بدو نتائجو او عواقبو نه او دغالب او توانا پروردگار له عذابه وویرول. او بیا یی دغه الهی احکام او بشارتونه او انذار ټولو نړیوالو ته ورسول او نړیوال یی د پاك الله په وحدانیت او ټولو عالی او شایان شان صفاتو باندی خبر کړل او د پاك پروردگار د قهر او عذابه یی و ویرول.

بسم الله الرحمن الرحیم

سرمقاله

د اهل حل و عقد شورئ یا لویه جرگه

په داسی حال کی چه په هیواد کی د مؤقت حکومت د راتلونکی مشر د ټاکلو لپاره د یوی عمومی شورا د رابللو کار پیل شوی، د شورا د نوم په سر بحثونه هم ورسره تاوده شوی دی.د مجاهدینو اوسنی حکومت او یو شمیر جهادی تنظیمونه د دغی غونډی لپاره د«اهل حل وعقدشورا» نوم غوره گنی او اسلامی دلایل ورسره مطرح کوی خو بل خوا د ځینو قومی مشرانو له خولی دا هم اوریدل کیږی چه دغه نوم زمونږ لپاره نااشنا دی او باید دغه ملی غونډه د لویی جرگی په نوم وبلل شی.

څنگه چه نن سبا دغو بحثونو د هیواد د سرنوشت ټاکلو دغه ستر مجلس ته د یوی متنازع مسألی رنگ ورکړی او داسی فکر کیږی چه شاید دغه دواړه غونډی له یو بل سره په تضاد کی واقع دی نو مونږ د خپلی دی گنی سرمقاله همدی موضوع ته وقف کړه او زیار به وباسو تر څو دا حقیقت د خپلو هیواد والو په اذهانو کی پیاوړی کړو چه د جرگی د نوم په ځای د هغی ماهیت د پاملرنی وړ دی.

شورئ د اسلامی حکومت د نظام او اسلامی سیاست یومهم اصل دی.د اسلامی هیواد د ټولو مهمو او ارزښتناکو پریکړو نه علاوه د هیواد دمشر ټاکل هم ددغی شورئ دنده تشکیلوی او د هیواد ټول قوانین د شورئ له تائید او تصویب نه وروسته د تنفیذ وړ دی.

د اسلام مقدس دین د آمریت او دیکتاتوری په ځای د شورائیت د سیستم پلوی کوی او خپلو پیروانو ته په دولتی، ملی او فردی چارو کی د شوری او مشوری توصیه کوی.

د الله تعالی له لوری رسول الله صلی الله علیه وسلم ته له خلکو څخه د مشوری اخستو حکم ځکه ورکړی شو چه امت ته د شورائیت سلسله سنت پاتی شی تر څو راتلونکی امتونه د آمریت او دیکتاتوری په لار روان نه شی او د شورائیت په شرعی قاعده باندی ټینگ پاتی شی.

دا هغه لاره ده چه د بشریت لارښود محمدصلی الله علیه وسلم وربانده په خپل ژوند کی عمل کړی او د هری غیرمنصوص او مهمی معاملی په هکله به یی له اصحاب کرامو سره مشوره کوله او ډیر ځله داسی هم شوی چه پیغمبر علیه السلام د اصحابو د رای او نظر په مقابل کی له خپل تجویز څخه منصرف شویدی.

د بشریت لارښود، خپل امت ته له یو بل څخه د مشوری اخستو هدایت ورکړی او توصیه یی کړی چه خپلی

رسول الله صلی الله علیه وسلم تر خپل بعثت وروسته تر دیارلسو کلونو پوری یوازی د دعوت او تبلیغ په ذریعه خلك له الله تعالیٰ وویرول او د الله پاك جل علی شانه د ذات او صفاتو سره د شرك او له هغه نه د نافرمانئ د عواقبو او سخت عقاب او عذاب نه خبر کړل په دغه موده او دوران کی هغه نه جگړه او جهاد وکړ او نه یی جزیه واخسته. بلکه دا حکم ورته ورکړی شو چه لاس ونیسئ او صبر کوی، عفو او تیریدل خپل شعار وگرځوی.

بیا وروسته الله پاك جل جلاله خپل گران او محبوب پیغمبر ته د هجرت اووطن پریښودلو هدایت ورکړ، او تر هجرت وروسته یی اجازه ورکړه چه څوك ورسره جگړه کوی نو تاسی هم ورسره جگړه وکړئ او په جگړه کی زیاتی او تعدی مه کوئ خو پام کوئ چه په هغه چا باندی لاس پورته نه کړئ چه ستاسی سره جنگ نه کوی او ځانته درځخه غلی او په آرام ناست وی.بیا وروسته الله تعالی حکم ورکړ چه دمشرکانو سره جنگ وکړئ تر هغه چه دین پوره پوره د الله تعالی شی.

د جهاد دحکم تر صادریدو وروسته کفار په دریو طبقو یا دریو ډلو باندی وویشل شول. یوه ډله «اهل صلح»؛ بله «اهل حرب» او دریمه ډله یی «اهل ذمه» وو. د کومو کفارو سره چه د جگړی نه کولو تړونونه شوی وو حکم وشو چه د هغوی سره په معاهدو باندی وفا وکړئ او د سولی تړونونو ته د پخوا په شان ادامه ورکړئ چه څو د معاهدو وختونه پوره شوی نه وی نو پام کوئ چه جگړه ورسره و نه کړئ او تر څو چه دوی تړون نه وی مات کړی مسلمانان به ورسره په تړون باندی وفا کوی او تینگ به ورسره په تړون باندی ولاړ وی که چیری له کفاروڅخه د تړون ماتولو او خیانت تشویش وی نو بیا یی معاهدی ورته په ډاگه ور وغورزوی او تر هغه وخته پوری د هغوی په خلاف د جگړی توری ته مه لاس کوئ چه ترڅو ورته خبر ورکړئ چه دمسلمانانو او ستاسو تر منځ د جگړی نه کولو دتړون وخت پوره شویدی یا دا چه ستاسی د هغه هغه فلانی فلانی خیانت په وجه تړون مات او فسخ شو. او دتړون ماتوونکو سره چه لازمه شوه نو جگړه وکړئ.

هغه وخت چه«سورة التوبه» نازل شو نو په هغه کی دریواړه احکام بیان شول او دا خبره څرگنده کړی شوه چه د اهل کتابو له ډلی څخه چه څوك د الله تعالی دشمنی غواړی د هغوی په خلاف جگړه وکړئ تر هغه وخته پوری چه دوی خوار او سپك کړی شی او په خپل لاس جزیه ورکړی یا اسلام ومنی او په اسلام کی داخل شی. د کفارو او منافقانو په باره کی وویل شول چه دهغوی په خلاف جهاد وکړئ او سختی ورسره وکړئ.

نو ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم د کفارو سره دتوری او وسلی په ذریعه جهاد وکړ او د منافقانو سره یی د دلیل او خبرو په وسیله په جهاد لاس پوری کړ.

په دغه سورة کی له هغو کفارو څخه چه عهد شکنی یی کړی ده د بیزاری اعلان وشو دوی چه پخپلو

تړونو باندی وفا نه ده کړی نو د هغوی په خلاف جنګ وشو او مسلمانان ورباندی بریالی شول.

د معاهدو دری ډوله وټاکل شول. یو دا چه کومو کفارو چه په خپلو معاهدو باندی وفا ونکړه د هغوی سره جګړه وشوه. دوهم ډول هغه کفارو چه د هغوی سره لا د معاهدو موده پاتی ده او هغوی په خپلو معاهدو باندی وفا ته ادامه ورکوله او د نور څه مخالفت یی هم نه کاؤ نو د هغوی په خلاف د جګړی نه کولو حکم وشو چه تر څو د هغوئ د تړون میعاد پوره شی.

او دریم ډول هغه کافران وو چه دهغوی اومؤمنانو ترمنځ څه تعهد یا تړون نه ؤ او نه یی د مؤمنانو سره د جګړی تیاری کوله او نه یی جګړه کوله یا داسی وو چه د هغوی او رسول الله صلی الله علیه وسلم تر منځ د یوی نا معلومی مودی او نا ټاکلی نیتی پوری د سولی معاهده او تړون ؤ نو د هغوی د پاره ربانی ارشاد داسی ؤ چه دوی ته دی دځلورو میاشتو مهلت ورکړی شی او چه ددغه مهلت موده پای ته ورسی نو بیا دی ورسره جګړه وشی.

لنډه دا چه د ترون ماتوونکو سره جګړه وشوه.چه ترون ورسره نه ؤ شوی یا ورسره د نامعلومی مودی پوری تړون شوی ؤ هغوی ته دځلورو میاشتو مهلت ورکړی شو او هغو کفارو چه په معاهدو باندی یی وفا کوله نو د معاهدی د مودی د پوره کیدو حکم ورکړی شو. په دی ډول ټول خلك اسلام ته راغلل او په اهل ذمه باندی جزیه کیښودل شوه.

یعنی دسورة التوبه یا براة د نزول نه وروسته درسول الله صلی الله علیه وسلم سلوك او تګ لاره د کفارو سره په دری ډوله شوه: محاربین، اهل ذمه او اهل عهد،اهل عهد هم بالاخره اسلام ته ورننوتل اومؤمنان شول، پاتی دوه ډلی یعنی محاربین او اهل ذمه وومحاربین مسلمانانو څخه ویریدل اوسنو حالات داسی شول چه یو خوانه مسلمانان وو چه درسول الله صلی الله علیه وسلم په هدایاتو او لارښوونو باندی یی ایمان لاره. بل خوا ته سوله غوښتونکی کافران وو هغوی ته د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له خوا آمان ورکړی شو او دریمه ډله خایفین وو چه داسلام سره په جګړه وو.

پاتی شول منافقان، د هغوی سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم رویه دا وه چه د پاك الله د حکم سره سم د هغوی ظاهری احوال قبول کړی شول او باطنی حالات یی الله تعالی ته پریښودل شول او د علم او دلیل له لیاری ورسره جهاد ته دوام ورکړی شو. د توری او وسله وال جهاد نه بچ پاتی شول.مسلمانان دهغوی له جنازی کولو څخه منع کړی شول او د مغفرت غوښتنی له دعا څخه هم محروم کړی شول.



نوی نړیوال نظام

NEW WORLD ORDER

دعابد ژباړه

نن سبا په نړۍ کی دنوی نړیوال نظام خبره دهر چا په خوله ده اوغیر له دی چه په اهدافو او مقاصدو ئی خوک پوه شی له هری خوا او هری خولی وریاندی بحثونه او خبری کیږی. په دغه موضوع کی د«نوی NEW» له کلمی څخه خلکو ته دا فکر پیدا کیږی چه گوندی دا کومه نوی مسأله ده او لکه چه په افغانستان کی دروس د شکست او تیښتی او د شوروی اتحاد دداخلی ویجاړتوب او ټوټی ټوټی کیدو او دخلیج دجگړی نه وروسته په نړۍ کی د یواځینی زبرځواک په حیث دامریکی د راڅرگندیدو څخه را پیدا شویده، خو حقیقت دا دی چه دا یو ډیر پخوانی خوب دی چه یهودی سردمدارانو له نن څخه کم نه کم دوه سوه کاله وړاندی لیدلی ؤ او د تکمیل او رښتینی تعبیر د پیدا کولو لپاره ئی پراخ پلانونه ورته جوړ کړی وو.

د امریکی حال په خپله دا دی چه دغه هیواد د اسرائیلو او نړیوال صهیونیزم حامی او سر پرست نه بلکه د هغه تابع او غلام دی، دامریکی په مرۍ کی د یهودو د غلامۍ غړوندی پروت دی او یهودی او نړیوال صهیونیزم څنگه چه غواړی هماغه شان خپل امریکائی نانځکی نڅولی او په خپلو اشارو ئی چورلولی شی.

په اسرائیلو او ټوله نړۍ کی د پرتو یهودیانو د ناوړو نیتونو او پلانونو په باب زیات شمیر کتابونه لیکل شوی چه زیات شمیرئی په امریکا کی چاپ شویدی. یو له دغو کتابو نو څخه چه د یهودو له ناوړو عزایمو څخه ئی پرده پورته کړی په ۱۹۵۸ کال کی چاپ شوی د«و لیم گائی کار»

Willium guy carr په قلم لیکل شوی د (Pawnsin the gam)

د(شطرنج مهری) په نوم کتاب دی چه زیات شهرت یی موندلی دی. په دغه کتاب کی لیکل شوی چه په ۱۹۷۳ کال کی دجرمنی د فرانکفورت ښاردیرش کلن ښاروال راشچایلد Roshchild د هغه وخت د

یهودی نړۍ یو سل او دولس تنه ستر ستر سرمایه داران او با رسوخه شخصیتونه راغونډ او دهغه په وړاندی یی د پرله پسی لکچرونو او وروسته یی د لیکلو مضامینو او اسنادو په ترڅ کی د«نړیوال یهودی حکومت» پلان وړاندی کړ او دغه پړاوُ ته د رسیدو لپاره ئی مفصل تجاویز وړاندی کړل. وروسته دغو پټو اسنادو ته د Protocols of the Elders of zion نوم ورکړی شو.zion په بیت المقدس کی د یوی غونډی نوم دی. له دغه مناسبت څخه دا خبره ډیره ښه روښانه کیږی چه نن نه دوه سوه کاله وړاندی یهودو په بیت المقدس باندی د خپلی استعماری قبضی د ټینګولو لپاره څنګه پلان جوړکړی ؤ او وروسته ددغه استعماری پلان د پراخولو او تطبیقولو او د وسلی د استعمال په قوت په عامه ذهنیت باندی د نړیوال صهیونستی حکومت د نقشی ټاپه څنګه ووهل شوه.

د اسرائیلی حکومت دتاسیس منظم پلان د استریا یهودی مشرهرتزل Hertzel په ۱۶۹۵ کی وړاندی کړ او ددغه هدف د پاره، هغه د سویتزرلینډ په باسل ښار کی د یهودو لومړنی نړیوال کنفرانس جوړ کړ. د دغه کنفرانس په ترڅ کی نه یوازی دا چه د اسرائیلو د حکومت پلان جوړ شو بلکه د دغه حکومت په واسطه په نړۍ باندی د یهودو د تسلط او بر لاسی ناوړه تابیا هم وشوه او عملی پلان هم جوړ شو.کوم پټ اسناد چه ددغی غونډی په ګډون کوونکو باندی وویشل شول ټول په عبرانی ژبه لیکل شوی وو او ټوله شمیره یی څلویښت وه. دا په حقیقت کی د راشچایلډ له خوا د تهیه شوُیو اسنادو زیاته مفصله او د نوی سره کتل شوی ښه وه. تر۱۹۰۳کال پوری د یهودو د دغی پټی دسیسی په هکله هیڅا ته معلومات نه وو تر ټولو لومړی د سرجی ای نایلس په نوم یوه تن عیسائی پادری له دغه پټ راز څخه پرده پورته کړه، په مسکو کی د دغو پټو اسنادو روسی ترجمه د هغه په لاس پریوته چه فوراً په انګریزی ژبه ترجمه او په ۱۹۰۶ کال کی د برتانیی د موزیم کتابخانی ته وړاندی کړی شوه. وروسته دغه اسناد جرمنی او شمالی امریکا ته ورسیدل. څنګه چه په دغو اسنادو کی تر ټولو لومړی د غرب په عیسائی نړۍ او وروسته په تدریجی ډول په اسلامی هیوادونو او بیا په ټوله نړۍ د یهودی سلطی د ټینګولو پلان جوړ شوی ؤ نو ځکه خوبی د اروپائیانو جذبات راوپارول. هغه وخت چه هټلر په جرمنی کی د روشچایلډ بانك له یوی زیرزمینیٔ څخه سپك مګر د مهر شوی بندبکس څخه دغه اسناد را واخستل له ډیری غصی څخه لړمی لړمی شو او د یهودو په خلاف ئی تصفیوی عملیات پیل کړل. اوس له دی راز څخه هم په ښه شان پرده پورته شوی ده چه په روس کی د بالشویکانو انقلاب د یهودو له خوا رهبری شوی ؤ. آیا دا د یادولو وړ خبره نه ده چه د کمونیست تحریك مؤسسین یهودیان وو.کارل مارکس یهودی ؤ، تراتسکی او لینن یهودیان وو، دستالین اولینن ماندینی یهودیانی

وی.په روس کی د بالشویك انقلاب نه وړاندی یهودیانو زیات فعالیت کاوه، د لومړی نړیوال جنګ نه وړاندی لینن د هغه د دووسوو ملګرو سره په یو مخصوص بند اورګاډی کی روس ته ورسول شو له دغی ډلی نه د ۱٦٥ تنو نومونه ښکاره شویدی چه یوسل او اته ویشت تنه پکی یهودیان وو. روس ته د لینن له رسیدو وروسته تراتسکی هم د دری سوو تنو یهودیانو په ملګرتیا له امریکا څخه د روس خاوری ته داخل شو چه وروسته دغو خلکو په روس کی د بالشویك انقلاب د بریالیتوب مرحلی ته ورساوه.

د انقلاب نه وروسته یهودیانو په مهمو دولتی څوکیو باندی قبضه ولګوله. د٥٥٦ مهمو دولتی پوستونو له جملی څخه ٤٥٧ څوکی د یهودو له خوا اشغال شوی.

د پاکستان مشهورلیکوال او محقق مصباح الاسلام فاروقی په خپل مشهور اثر

Jewesh conspiracy and the Muslim world

کی له دغی یهودی دسیسی او په اسلامی نړۍ کی د یهودو له پټو دسیسو څخه پرده پورته کړه، دغه کتاب اوس نایاب دی او د یهودو په خلاف هرلیکلی او چاپ شوی کتاب ډیر زر پټیږی خو اوس دغه مواد د ځینو تفصیلاتو سره په نوی اردو ژبی کتاب(تسخیرعالم کایهودی منصوبه) کی بیا دعامه خبرتیا لپاره د ښاغلی ابوالحسن په قلم راټول شوی او چاپ شوی دی.

د دغه کتاب په لومړی برخه کی د مستندو غربی منابعو څخه د اختسل شویو معلوماتو له مخی د میکس نوردو Max Nordau په نوم یهودی د ۱۹۰۳ کال په اګست کی په باسل کی صهیونی کانګرس ته په خپله وینا کی دحیرانتیا وړ پیشګوئی وکړه چه:«ماته ددی خبری د کولو اجازه راکړی تر څو تاسو ته هغه پوړۍ در وښایم چه پاټکی یی یوازی پورته پلو روان دی، د هرتزل Hertzel له خوا رابلل شوی کانګرس جوړ شو، اوس به دبرتانوی یوګندا تجویز وړاندی شی،بیا به لویه جګړه ونښلی، وروسته به د سولی کانفرانس جوړ شی چه په هغه کی به د انګلستان په مرسته د فلسطین په نوم دیو آزاد یهودی هیواد د جوړیدو اعلان وشی.»

یهودی بانکدار والتررتنو چه د جرمنی د قیصر حامی ؤ په ۲٤ د ستمبر ۱۹۱۲ کی په خپل بیان کی چه په جرمنی جریده

Weiner Frei Presse کی چاپ شو وویل:«یوازی دری سوه داسی کسان چه له یو بل سره ډیر ښه پیژنی د اروپا د قسمت فیصله کوی او هغوی خپل جانشینان له خپلو ملګرو څخه ټاکی.»

دریتنو د دغی خبری تصدیق شل کاله وروسته په ۱۹۳۱ کال هغه وخت وشو چه د اسرائیلی اتحاد مهم غړی ژان ازولی په خپل کتاب «پاریس د مذهبونو پایتخت» کی ولیکل.

دتیری پیړۍ د تاریخ ماحصل دادی چه دری سوه یهودی پانګه اچونکی په ټوله نړۍ حکومت کوی.

(نور بیا)

غوره ویناوی

چاچه کوښښ وکړ، پس هغه حاصل کړ.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

د مور او پلار خوشحالول په دنیا کی د دولت او په آخرت کی د خلاصون سبب دی.

(حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه)

د ژبی لغزش د پښو د لغزش نه زیات خطرناک دی.

(حضرت عثمان رضی الله عنه)

کوم شخص چه خپل راز پټ ساتی، گویا خپله سلامتی پخپله قبضه کی لری.

(حضرت علی رضی الله عنه)

قرآن کریم بهترین علاج دی، د قرآن کریم په ختمیدو د لوستونکی دعا قبلیږی.

(ترمذی)

په نړۍ کی د انسان ژوند د هغی شمعی په څیر دی، کوم چه په هوا کی ایښودل شوی وی.

(بطلیموس)

چا چه تکبر وکړ، الله تعالی هغه ذلیل کوی.

(کتاب فردوس)

کوک چه لونګ، زکاة، روژه او صدقه د دنیا ته د پښو د لولپاره وکړی، هغه مشرک شو.

(بیهقی)

په تیر پسی

امام الجهاد شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله)

د علماؤ کرامو او مجاهدینو په نظر کی:

برادر محترم مولوی صاحب حمیدالله «بدخشانی»

زمانیکه جهاد اسلامی در کشور عزیزما افغانستان آغازگردید نخستین قهرمانی علمی و دانشمند سیا سی شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) بود که از ولایت کنر جهاد مقدس را بمقابل کمونستها و ملحدین آغاز نمود و از آنجا بسائر ولایات سرایت نمود جزاه الله خیرالخبرآء. آشنای وارتباط من از همان زمان است و از همان وقت من با شیخ موصوف آشنای و ارتباط داشتم.

تعلق سیاسی اینجانب با امام شهید بطور عموم بحیث عضو شورای مرکزی جماعة الدعوة الی القرآن والسنة و بطور خصوصی بحیث مدیر مدرسه جامعة القرآن والسنة برای طلبه بدخشان و صفحات شمال بود.

مهم ترین کارنامه شیخ مزبور (رحمه الله) پس از فراغت از تحصیل اشاعت و توحید و احیاء سنت سرور کائنات علیه السلام و الصلوات بوده و درهمین سلسله با حکومت وقت برخورد وسنت یوسف علیه السلام را جامه عمل پوشانید، کارنامه دیگرش اینست که در زمان حکومت ظاهرشاه حینکه حزب کمونست در افغانستان تاسیس گردید و رفته رفته سبب زوال حکومت ظاهرشاه وتشکیل حکومت کمونستی در افغانستان گردید، همان وقت جهاد اسلامی بکوشش علماء و دانشمندان وطن آغاز گردیده نخستین دانشمندیکه سلاح برکف گرفته و سینه خود را سپرتیر دشمن و ملحدین گردانیده شیخ جمیل الرحمن شهید است.

شیخ (رحمه الله) مفکوره سیا سی داشت وقتی رهبران قیادی مجاهدین در پشاور تنظیم ها ساخته و دست به تأسیس مدارس ومکاتب زاد.

شیخ شهید(رحمه الله) نیز تنظیم ساخت بنام جماعة الدعوة الی القرآن والسنة و مدارس تأسیس نمود با نهج جدید و تعلیم جدید مطابق بعنوان جماعة الدعوة و مجاهدین تشکیل نمود به نقش سلف صالحین.

تعلیم وتعلم قرآن و حدیث مدارس باوج خود رسید.

میخواست که بعدازفتح افغانستان قانون اساسی آن سرزمین کتاب وسنت بوده باشد، نه قوانین وضعیه و فکر بش، یعنی میخواست که حکومت افغانستان نه دیموکراسی باشد و نه سوسیالیستی ونه جمهوری بلکه امارت اسلامی واقعی پیرو کتاب وسنت بطور سلف صالحین رضوان الله علیهم اجمعین.ازین رو بعد از فتح ولایت کنر اقدام به تأسیس امارت اسلامی نمود تا مقدمه باشد برای امارت اسلامی درکابل و سایر ولایات افغانستان.

ورمیردیم عذر ما بپذیر
ای بسا آرزو که خاک شد

رفتارحکیمانه وکردارعالمانه داشت بقاعده العالم قوم العالم.

چون امام شهید دارای عقیده سلف صالحین بوداعتراضات وشکایات مردم

را با جبین کشاده می پذیرفت و با هر کس به قدر توانش مساعدت می نمود.

امارت شیخ مرحوم به انتخاب اهل حل وعقد بلکه انتخاب عامه مردم صورت گرفت نه بطریقه ظلم و استبدادطوریکه شیوه سلاطین ظلم است.

من به همه ورثه و دوستان و کارکنان جماعة توصیه می کنم که برای همیش شیخ شهید را به دعا خیرياد نمایند.

و تا پای جان در پیشرفت دعوة الی القرآن والسنة بذل مساعی نمایند.

اللهم اغفره وارحمه واحشره مع الصالحین

والسلام

محترم ورور الشیخ عبدالسلام

شیخ جمیل الرحمن شهید له ماسره په درس قرآن د پنج پیر کی هم سبق پاتی شوی ؤ او ددغه نسبت په بنا هر کله چه شیخ شهید افغانستان نه مهاجر شو نو د جهاد د تحریك شروع یی زمونږ د جامعی له طلباؤ نه وکړله. د کنړ د منطقی ډیر طلباء هغه وخت له ده سره زمونږ له جامعی نه شریك شول.

او د توحید او سنت د وجی نه ځما له هغه سره تعلق تر آخره پوری ښه ؤ.

ددعوت مجله شیخ شهید د یو کلك موحد، متبع سنت، عالم، باعمل مجاهد او شهید په صفت ښودلی شی د شیخ شهید ژوند (لکه څنګه چه ما ته په تواتر سره ثابته شوی ده) په ملك کی د حق دین او توحید او سنت په نشرو اشاعت او د باطلو قوتونو په مقابله کی تیر شویدی.د باطل قوت د سلطی د وجی نه شیخ شهید ته په ملك کی د حق پرستی په وجه ډیر مصائب او تکالیف رسولی شویدی حتی که د وطن عزیز نه هجرت کولو ته مجبور کړی شو او بیا یی د دعوت د ستر مسؤلیت په بنا پس د هجرت نه پوره عملی میدان تیارکړی و ، بی شماره جوامع او مدارس او مرکزونه د دعوت الی القرآن والسنة د هغه دمحنت نتیجه ده او د حق پرستو سره ئی هر قسم تعاون کاوه، د هغه ښائسته خلق ؤ ددی وجی نه له هغه سره زما زیات تعلق وو.

کله کله د هغه مجالسو کی ماته د شرکت موقع ملاؤ شوی وه، ما لیدل چه د عامو خلکو سره همدردی او د هغوی ضروریاتو او حاجاتو ته نظر کول دهغه خاص شیوه وه، د عامو خلکو د عریضو جوابونه یی په احسن طریقه ورکول.

د شیخ شهید وارثانو او دوستانو او د جماعة الدعوة کارمندانو ته د هغه د جنازی نه بعد هم په بیان کی ما ویلی وو او اوس هم وایم چه د هغه اخلاقو او تعلیماتو باندی عمل وکړئ او د هغه تحریك د دعوت د هر قسم سیاسی وغیره امورو نه مقدم وګڼی او په آزاد شویو منطقو کی د اسلامی امارت د قایم کولو کوشش دی وکړی او په دعوت باندی دی هر قسم مالی او جانی قربانئ وکړی او د توحید وسنت له مخالفو اومقابله کوونکو سره دی مقاطعه اوبیا دی جهاد وکړی.

هذاماعندی ولاازکی علی الله احدا.

محترم ورور مولوی صاحب فضل جلال

له شهیدشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله)سره زمونږ د پیژندګلوی علاقه له نوموړی سره دهغه علمی او دعوتی، او جهادی شهرت وو او شاید دا د هیچا نه مخفی نه وی.

شهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) زما استاذ پاتی شویدی او له کال ۱۳٤۸ څخه زمونږ تعلقات پیل شوی چه شرح جامع، مختصرالمعانی، شرح التهذیب کتابونه می تری لوستلی دی.

نوموړی له زمانی د طفولیت څخه داسلامی علومو طالب او ډیر هوښیار او نهایت ذکی ؤ او خپلو ټولو استاذانو ته د دیانت او ذکاوت او ښکلی سیرت په وجه ډیر محبوب ؤ اوکله چه نوموړی دفراغت سند ترلاسه کړو او لوړ رتبه فاضل او عالم شو بیا

یی دعلمی درسونو دتدریس له مشغلی سره سره دطاغوتی حکومتونو پرخلاف آوازهم اوچت کړ او همدارنګه د صفاتو په باره کی یی د متکلمینو (لکه اشاعره او ماتوریدیه) پر خلاف خپل شاګردان تفهیمول او دغیر شرعی حکومتونو اطاعت یی ګناه او شرك باله چه دا دنوموړی یوازنی شعارؤ.

نوموړی چه د خپل وخت یو بی مثله عالم ؤ مجاهد مطلق او ددعوت په لار کی یی خوفه او د «لایخافون لومة لایم» مصداق ؤ په دی اساس یی زمونږ توجه ځان ته جلب کړی وه.

شیخ(رحمه الله) د کوم ځانګړی نظر خاوند نه ؤ بلکه د توحید او سنت غوښتونکی ؤ او ټول ژوند یی د قرآن اوآحادیثو په رڼا کی تیراوه او دشرك، بدعت او شخصی تقلید پر خلاف ؤ.

څرنګه چه دکنړ په ولایت کی اولنی جهاد دده د هلو ځلو په وجه شروع شوی ؤ او الله پاك په خپل فضل سره اول همدا ولایت آزاد کړ نو نوموړی شهید(رحمه الله) په ۱٤۱۰هـ ق کی له اسلامی هداياتو سره سم اسلامی امارت اعلان کړو. دا چه اسلامی امارت د اسلامی جهاد ثمره او نتیجه ده پدی اساس ویلای شو چه دغه امارت د ټولو اکوانو، او قطاع الطریق قاتلانو او ظالمانو د مخنیوی پخاطر جوړ شو خلاصه دا چه شهید(رحمه الله)خپل ټول فکرد جهاد عمومی پاڅون او دیو اسلامی حکومت جوړولو ته اړولی ؤ آخر په کی د یو رښتینی اسلامی حکومت ددښمنانو د لاسه د شهادت لوړ مقام ته ورسیده، روح دي ورته ښاد او لار دي ورته له لارویو ډکه لری.

د نوموړی شهید(رحمه الله) دوستی او دښمنی دواړه د الله تعالی درضاء لپاره وه یعنی د اسلام عآم دښمنان دده دښمنان او داسلام دوستان دده دوستان وو، بل هیڅ قسم قومی، منطقوی، لسانی او دنیوی دښمنان او دوستان یی نه درلودل.

والسلام

محترم ورور اسدالله «متین»

مولوی جمیل الرحمن صاحب (شهید) د الله په قرآن لکه د اصحابو په شان محکم او د توحید په اشاعت په کامل استقامت او متانت ولاړؤ او د الله تعالی د طاقت په مقابل کی یی نور طاقتونه هیڅ ګڼل او دغه وه د وارث الانبیاؤ فریضه او وظیفه.

مولو ی جمیل الرحمن صاحب پدی صدی کی د اسلام د دین او د قرآن د اشاعت اوخدای ته دیوانسان د رسیدلو او دخپل خالق د پیژندلو په لار کی یو روښانه چراغ او مشعل راه ؤ.

دشهید شیخ (رحمه الله)وفات اګر چه پداسی نازك وخت کی زمونږ د پاره یوه لویه ضایعه او تاوان ؤ خو زما په خیال هغه خپله وظیفه سرته رسولی وه او هغه پخپل مشن کی کامیاب ؤ، پاتی شوه دمرګ او وفات خبره دا یوه لازمی او یو خاص وخت پوری تعلق لری چه د هغی نه وړاندی کیدلی یا وروسته کیدلی نشی.

له شیخ جمیل الرحمن(رحمه االله) سره زما د اسلامی اخوت او عقیدی له مخی ډیر نژدی تعلقات وو، د هغه داخلاقو او روش په باب به زه پدی ځواب کفایت وکړم چه شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله)شیخ القرآن ؤ او د قرآن او سنت په هدایت یی عمل کړی ؤ، د قرآن په مستقیم لار روان ؤ او د قرآن او سنت نبوی اخلاق د هغه اخلاق وو.

په کنړ کی د اسلامی امارت په اوله دوره کی زه د شهید شیخ(رحمه الله) د ملاقات لپاره لاړم دغه وخت د سهار نه بجی وی چه زه توپچی ته ورسیدم دملاقات د پاره می خپل کارت ورکړو نو فوری یی وغوښتلم، څنګه چه زه ورغلم ګورم چه عام او خاص خلك په کتونو کی ناست، څوك څلورتنه په یوکټ کی، او څوك پنځه پنځه تنه په یو کټ کی دی مخامخ مولوی عبدالبصیر صاحب ناست دی ما ددی یو طرف د خلکو سره لاس ورکړه خو

بیازه دمولوی عبدالبصیرصاحب خواته ورغلم اوکښیناستم دامی غرض ؤ چه دا نور خلك کښینی نو زه به د عاموخلکو له سلام نه وروسته د شهید شیخ(رحمه الله) خواته ورشم پدی کی ماته مولو ی عبدالبصیر صاحب وویل چه مشر مولوی صاحب ولاړ دی، لکه چه تا ونه لید چه ما وکتل نو مشر مولوی صاحب زما طرف ته را روان او په خنداشو وئی ویل لکه چه په نظرکی دی فرق راغلی، ما ورته په ځواب کی وویل چه دحضرت عمر صاحب ملاقات له چه د رومیانو یو وفد راغلی ؤ نو تپوس یی وکړ چه ستاسو امیرالمؤمنین کوم ځای دی؟ نو چا ورته وویل چه په هغه ځای کی چه په ځمکه یو سړی پروت دی دغه زمونږ امیر المؤمنین دی هغوی حیران شول او په دغه وجه په ایمان مشرف شول، ستا آمریت هم دمؤمنانو امارت دی، ټول بلا امتیازه ژوند دی او اسلامی امارت هم دغه شان وی، بیا چه کله د ډوډۍ وخت شو نوهمدغه شان ټول امیر او فقیر یو شان ډوډۍ ته کښیناستل د کونړ د فاجعی نه وروسته زه بیا دهغه د وراړۀ د فاتحه خوانئ لپاره خار باجوړ ته لاړم.د مولوی صاحب(رحمه الله) سره په دغه وخت کی مولوی غلام الله صاحب هم ناست ؤ مونږ ته خو د کونړ په فاجعه باندی ډیر غم او درد رارسیدلی ؤ او زما دا خیال ؤ چه د مشر مولوی صاحب په حوصله به هم خامخاتاثیر شوی وی، ما اول یو څو آیاتونه تلاوت کړل او بیا مو د مولوی صاحب د شهید وراړۀ او نورو شهیدانو په حق کی دعا وکړه، شیخ القرآن د احد د جنگ یو آیت ولوست او وئی ویل چه دا د الله تعالی آزمایش ؤ چه ستاسو حوصلی خرابی نه کړی او خفه نشی.

بیا ما درخواست وکړو چه زه ستا سره یو څو خبری کوم نو هغه ماته وویل چه نژدی راشه او مولوی غلام الله صاحب راته وویل چه خبری لری په زوره ورته کوه، ما د موجوده وخت او د آینده د پاره د خپل فکر مطابق یو څو تجویزونه د هغه حضور ته پیش کړل،نو هغه ډیر په غور سره واوریدل. د هغی نه پس هغه ماته مخاطب شو او راته یی وویل چه ستا ددی خبرو صلاح که ما وړاندی له چا سره کړی وی نو زما به ضرور دا گمان وی چه دی هم ددینه خبر دی خو اوس ما ته ډیره عجیبه ښکاره شوه چه زما او ستا نظریه او مفکوره یو شان برابر ده. دغه تجاویز ما ټول عملی کړی او ټول می کړی خو زه په کی ناکام شوی یم او بعضی خلکو زماسره غداری وکړه او د قرآن په قسم کولو هم ونه دریدل خو که دغلته ته هر څه کار روانی چه کولی شی زما درته اجازت دی او ستا خبره او ژبه به عیناً زما خبره وی دا ؤ پخپلو دوستانو د شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله)اعتماد او یقین، په دغه ورځ یی زما سره دا وعده وکړه چه د جمعی نه بعد به زه ستا ځای ته درځم ځکه چه ما په سوات کی سبق ویلی او سوات می خوښ دی خو دغه ورځ د ده دشهادت ورځ وه.

په کنړ کی چه اسلامی امارت قایم شو دغه واقعی یو اسلامی امارت او د شریعت محمدی په بنسټ یو ولاړ حکومت ؤ او په افغانستان کی د اسلامی دولت یوه نمونه او بنیاد ؤ فیصلی به د شریعت او د مسلمانانو د شوری په رأیه او نظریه کیدی. دکونړ مهاجرین اکثر واپس خپلو ټاټوبو او کورونو ته لاړل د خپلو ځمکو په آبادئ او د وطن په اعمار مصروف شو خو له بده مرغه د اسلامی دولت او قیام بعضی برای نام مسلمانانو او داسلام په جامه کی منافقانو برداشت نکړی شوه دا ئی فیصله وکړه چه دغه لږه غوندی رڼا چه نن د افغانستان په یو اړخ کی را پیدا شوی ممکن مړه کړی، دوی خپلی ټولی ډسیسی او مکرونه په کار واچول او بالآخره د کونړ افسوسناکه واقعه او فاجعه منځ ته راغله او یو څوورځی د دغه ولایت حالات خراب اومسلمانانو او مهاجرینو

هغه مهمې چارې چه د قرآن او حدیث نص پکې موجود نه وي د باهمې مشورو په وسیله حل کړي.

عن علي رضي الله عنه قال قلت يا رسول الله صلى الله عليه وسلم ان نزل بنا امرليس فيه بيان امر و لانهى فما تامرونى؟ **قال شاوروا فيه الفقهاء العابدين ولاتمضوا فيه راى خاصة**. (رواه الطبراني).

ترجمه: حضرت علي رضي الله عنه فرمائي: پوښتنه مې وکړه يا رسول الله صلى الله عليه وسلم که چېرې زمونږ تر منځ کومه داسې موضوع راپيداشي چه د هغه په هکله نه امر وي نه نهى. نو د داسې پيښې په هکله څه حکم کوي؟ پيغمبر صلى الله عليه وسلم وفرمايل په دغسې چارو کې د عابدينو او ديانت لرونکو شريعت پوهانو سره مشوره وکړئ خو خانګړې رايه مه اختياروئ.

دغه شان په بل حديث مبارك کې لولو چه:

عن سهيل بن سعدالساعدى رضى الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم ما شقى عبد قط بمشورة و ماسعد باستغنا راى. (ابن قيمه ص ٤٥٥)

يعنى مشوره کوونکې سړې هيڅکله له حق څخه نه بې برخې کيږي او خپله راى خوښوونکې او په خپله رايه فخر کوونکې هيڅکله نيك مرغه کيدې نشي.

يعنى ملوکيت او ديکتاتورى د شقاوت او بدبختۍ لاره ده او شورائيت د سعادت او نيکمرغۍ.

مشوره يو امانت دى چه بايد په ښه ډول ادا شي په همدې اساس مشاور بايد داسې شخصيت وي چه په ديانت او امانت کې وربانديې اعتماد او باور وشي او په مشوره کوونکې فرض دي چه د امانت په سپارلو کې خيانت ونه کړي او د پوره غور او تعمق نه وروسته د ايمان او صداقت په رڼا کې ساله فيصله وکړي.

پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمائي: المستشارمؤتمن.

يعنى مشاور معتمد او باورى وي.

څرګنده خبره ده چه د هيواد د ټولو مسلمانانو څخه چه شمير يې مليونونو تنو ته رسيږي يوې غونډې ته رابلل او مشوره ورڅخه اخستل ناشونې کار دى نو پوښتنه دا پيدا کيږي چه له څه ډول کسانو څخه بايد رايه او مشوره واخستل شي. ځواب ښکاره دى او هغه دا چه د مسلمانانو د باورى او معتمدو نمايندګانو څخه بايد مشوره واخستل شي، د ملت دغه نمايندګان په مبارکو احاديثو کې د عرفاو په نوم ياد شويدي.

د بشريت لارښود محمد صلى الله عليه وسلم فرمائي: **ان العرافة حق ولا بد للناس من العرفا ولكن العرفا فى النار.** (ابوداود).

يعنى د سيمې نمايندګۍ ضروري خبره ده او خلکو ته د نمايندګانو ټاکل هم لازمې دي خو خراب او بد استازى به په دوزخ کې وي.

عرفاً د عريف جمع ده چه د مدبر، منتظم، سردار او د قوم په سياسي چارو د پوه په معنى راځي.

عرفاو ته نقباهم ويل کيږي، موسى عليه السلام د بنى اسرائيلو لپاره دولس نقباً ټاکلي وو. کله د ملأالقوم په

او مجاهدینو ته ناقراری پیدا شوه او هغه امن وامان په خونریزئ او کشت وخون بدل شو.

خو د اسلام د دشمنانو یواځې په دغه تسلی ونشوه او زړهٔ یی یخ نشو **لیطفئوانور الله بافواههم.**

نو بالآخره یی دا فیصله وکړه چه د ثمانچی په گولو دغه رڼا ترآبده مړه او ختمه کړی او پدغه سلسله کی د شیخ القرآن عظیم مجاهد جمیل الرحمن (رحمه الله) په ناحقه قتل واقع شو په دی حقله وضاحت اوصراحت ته ضرورت نشته هرڅوك پری ښه پوهیږی چه دا چا او دچا لاس ددغه عظیم مجاهد په وینو سرهٔ دی خو ددی ظالمانو دغه خیال او خوب بالکل غلط ثابت شو او غلطه نتیجه یی ورکړه ځکه چه الله پاك وعده کړی چه د قرآن حفاظت زما په ذمه دی که داسی نه وی نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات او د ابوبکرصدیق رضی الله عنه او د حضرت عمرفاروق رضی الله عنه له وفات سره به قرآن له منځه تللی وی خو دا زمونږ عقیده ده چه دا قرآن دخدای یو مبارك کتاب دی او دا به تر ورځی د قیامت پوری دغه شان جریان لری او که یو تن لاړ شی نو د هغه په ځای به الله پاك بل را پیداکړی او دا سلسله به دغه شان جاری او د توحید دعوت به ورځ په ورځ مخ په وړاندی روان وی اوس بیا د کونړ حالت د پخوا نه هم ډیر ښه او هغه اسلامی دولت بیا قایم شوی.

که شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) د دنیا نه لاړ خو هغه د خدای یو بنده، د قرآن خدمتگار، د توحید علمبردار ؤ او د الله پاك په قرآن باندی قربان شو، د هغه رڼا مړه نشوه او لاپسی نوره هم زیاته شوه، انشاءالله چه دا رڼائی به د افغانستان گوټ گوټ ته لا څه چه د روس تیرو ته هم ورسی.

«هرگز غیردآنکه دلش زنده شد بعشق
ثبت است بر جریده عالم دوام ما»

د شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) د ملگرو، پیروانو او دتوحید د عقیدی خاوندانو ته دا درخواست دی چه هغوی د خپل پیشوا د رهبرئ او رهنمائی لار تعقیب کړی او د خدای د دین او قرآن دغه شان خدمت وکړی لکه څنگه چه د هغه آرمان ؤ او پدغه لار کی هر قسم قربانی ته تیار او هر قسم تکالیف برداشت کړی فتح او نصرت د الله په قدرت کی دی او یقین لرو چه فتح او کامیابی به آخر زمونږ په نصیب شی او د خدای د دشمنانو او منافقینو د پاره به په دنیا کی عذاب مهین او په آخرت کی عذاب الیم نصیب شی.

والسلام

محترم ورور عبدالحمید «شورش»

له شهیدشیخ (رحمه الله) سره زما د پیژندگلوی بنیادی وجه داسلامی دعوت، جهاد اومبارزی گډ سنگر اوپه دی هکله واحده هدفمندی وه او دلمړی ځل لپاره زمونږ دا پیژندگلوی د ۱۳۵۱هـ ش کال دثور دمیاشتی دیو ولسمی نیټی دکارگردورځی دمظاهری په ډګر کی پیل شوه. ددی ورځی په مظاهره کی دشهید شیخ (رحمه الله) کردار محوری حیثیت درلوده او دا مظاهره د لمړی ځل لپاره دکنړونو د ولایت په مرکز اسد آباد کی دوخت د فاسد حکومت او دهغه په غیږ کی دروزل شوو غیر اسلامی ډلو ټپلو پر ضد په پوره کامیابئ سره دعامو خلکو په نه هیر یدونکی ملاتړ اوپیوستون سره ترسره شوه. په دی مظاهره کی شهید میرانگل خان اوشهید ډاکتر عبدالشکور چه دلغمان اوسید ونکی ؤ هم برخه درلوده، له شهید شیخ(رحمه الله) سره دپیژندگلوی څخه وروسته زما تعلقات له هغه سره په لاندینیو درجوکی باید په نظر کی ونیول شی:

لکه د یوه مشراوکشر وروورترمنځ تعلقات.

لکه دیوه مهربان استاد او مطیع شاگرد ترمنځ تعلقات.

لکه د جهاد دقوماندان او د هغه دعسکر ترمنځ تعلقات.

لکه دیوه روحانی مشر او دهغه دپیرو ترمنځ تعلقات.

لکه دیوه لارښود او لار ورکی ترمنځ تعلقات.

د شهید شیخ (رحمه الله) لاندینی اوصاف زما دزیاتی توجه وړ ګرځیدلی وو:

الف- دشهید شیخ(رحمه الله) سره دنژدی ملاقات په هیله کی هیچاته څه مشکل نه ؤ، دهری طبقی افرادو کولی شو چه له هغه سره هر وخت چه به ئی وغوښتل ملاقات وکری.

ب- دامنیتی دلایلو باوجود شهید شیخ (رحمه الله) دهیڅ ډول خطر پروانه ساتله.

ج- له خپلو ټولو میلمنو سره به په یوه دستر خوان ناست ؤ.

ح- دمقابل لوری پیشنهاد به ئی په غور سره اوریدهٔ اوقناعت بخشه ځواب به ئی ورکاوه .

خ- په کونډو، یتیمانو، معیوبینو اوبی وزلو زیات مهربان ؤ او دهغوی په پالنه کی ئی خاصه توجه درلوده.

د- دخوراك او پوشاك وسایل ئی د عادی خلکو په څیروو، دتجمل اونمایش آثار پکی نه لیدل کیدل.

ذ-خپل دوستان به ئی هیمشه دعلومو زده کړی ته اوبالخصوص د قرآن اوسنت دعلومو زده کړی ته زیات تشویق کول اوپه علمی مسایلو کی به ئی له هغوی سره د بحث اومناقشی زمینه برابروله.

ر- دهیڅ ډول خارجی فشارونو په وړاندی له خپل دریځ څخه تیریدونکی نه ؤ.

ز- شهید (رحمه الله) له هرچاسره دهغه دشخصیت اوحیثیت مناسب چار چلند درلوده.

د حق دلاری دستر دعوت د مسئولیت دسرته رسولو په غرض د شهیدشیخ (رحمه الله) عملی پروګرام په لاندی ډول ؤ:

الف- ددینی مدارسو تأسیس، چه په هر کمپ، هر کلی او هره ناحیه کی عملاً تطبیق وو.

ب- دقرآن اوحدیث دتدریس حلقی جوړول.

ت- دإسلامی دعوت اوتبلیغاتو په منظور دعلماء کراموفدونه مختلفو منطقو ته لیږل او دهغوی دسفر ټول اخراجات اداکول.

ث-ددینی اجتماعاتو، کنفرانسونو او تربیوی سیمنارونو دایرول.

ح-دعلمی مسایلو په هکله دخلکو دتشویق په غرض دعلمی مناظرو او مناقشو زمینه برابرول .

خ- د ذیعلاقه افرادو لپاره د کتابخانو په تأسیس سره دمطالعی زمینه مساعدول.

د- دعلماءکرامو لپاره دهغوی د ضرورت وړکتابونو په وریا توګه برابرول.

ذ- د ضرورت وړکتابونه، رسالی او نشراتی مواد تهیه کول او توزیع کول.

له عامو خلکو سره د شهید شیخ (رحمه الله) چارچلند په لاندی ډول ؤ:

الف- دعامو خلکو په میلمستیا غم او ښادی کی په پوره پابندی سره برخه اخیستل.

ب- دعامو خلکو سره دمشکلاتو په حل وفصل کی مادی او معنوی مرسته کول.

ج- دعامو خلکو تعلیمی او جهادی ضرورتونه رفع کول.

ح- عام خلك او د هغوی اولادونه دقرآن اوسنت زده کړی ته تشویقول.

خ- دعامو خلکو دروزمره ژوندانه په عاداتو، کړو وړو او رواجونو کی دهغوی دمنفی ارخونو داصلاح کولو هڅه کول. او هغوی ته توصیه کول.

د افغانستان د جهادی اسلامی تنظیمونو اودنړی په نورو هیوادونو کی داسلامی تحریکونو سره د شهید شیخ(رحمه الله) چارچلند په لاندی ډول ؤ:

الف-دافغانستان دجهادی ګوندونو سره مادی اومعنوی مرسته کول.

ب- د اسلامی وحدت او اسلامی

جهاد لوری ته دهغوی تشویقول .

ج- دنړۍ دنورو هیوادونو داسلامی تحریکونو ملاتړ او دهغوی له حقوقو څخه دفاع کول.

ح- د یوۀ بین المللی اسلامی وحدت لپاره هغوی ته توصیه کول او تشویقول.

دشهید شیخ (رحمه الله) مشهور اسلامی شخصیت او د هغی پورتنی چارچلند ددی سبب شوی وو چه اصیل جهادی قوتونه او اسلامی تحریکونه د شهید شیخ(رحمه الله) ملاتړ وکړی او له شیخ(رحمه الله) سره ئی په دی هکله له هیڅ ډول مادی او معنوی مرستو څخه دریغ نه دی کړی.

د جماعة الدعوة دتنظیم اسباب او عوامل په لاندی ډول دی:

الف- د افغانستان دمجاهدینو داسلامی اتحاد دړنګیدلو په صورت کی ددعوت او جهاد په چاروکی د رامنځ ته شوو او رامنځ ته کیدونکو انحرافاتو او خود سریو مخنیوی کول.

ب- په ټولنیز ذهنیت باندی دسیاسی ذهنیت دمطلقی واکمنۍ پرځای ددینی ذهنیت واکمنۍ ته ترجیح او د اولیت حق ورکول.

ج-د اسلامی جهاد داهدافو لاسته راوړل او دهغه دنتایجو حفاظت.

ح-د ټولنیز ژوند په ټولو ابعادو کی دقرآن اوسنت حاکمیت.

د شهید شیخ(رحمه الله)دخپلو دوستانو او دشمنانو سره د سلوك یواځینی معیار دقرآن اوسنت واضح او څرګند اصول وو چه ددغه اصولو په پوره رعایت او پام کی نیولو سره به ئی له دوست سره ددوست اوله دشمن سره د دشمن معامله کوله.

په دی رابطه دشهید شیخ(رحمه الله) په شخصیت کی د هیڅ ډول سازش، انعطاف، بزدلۍ او تطمیع آثارنه لیدل کیدل او نه ئی ځای درلود.

دافغانستان دکنړونو داسلامی امارت دتأسیس اسباب اوعوامل په لاندی ډول دی:

الف-دا چه دکنړونو ولایت د افغانستان دنورو ولایاتو په نسبت لمړی فتح او په مکمله توګه آزاد شوی ؤ او داسلامی جهاد په برکت او په الهی نصرت دځمکی یوه برخه دمسلمانانو په اختیار کی ورکړل شوی وه، نو دالهی مکرر حکم په اساس چه الله تعالی فرمائی:

ومن لم یحکم بماانزل الله فاولئك هم الکافرون.

ومن لم یحکم بما انزل الله فاولئك هم الظالمون.

ومن لم یحکم بما انزل الله فاولئك هم الفاسقون.

ومن لم یحکم بما انزل الله فاولئك هم الخاسرون.

دمسلمانانو دینی فریضه وه چه دالهی عدل دقیام، دحدود الله انفاذ او دشرع الله دتطبیق په خاطر په دی منطقه کی اسلامی امارت قایم کړی او داسلامی امارت تاسیس یو شرعی او دینی ضرورت او داسلامی جهاد غایه او هدف ؤ.

ب- دا چه دولایت دفتحی څخه وروسته دافغانستان نور ولایات د دهری حکومت ترسلطی لاندی وو.

نو داسلامی جهاد د پرمخ بیولو څخه علاوه په دی آزاده شوی منطقه کی د دهری رژیم د بقایاؤ، نښو او آثارو د له منځه وړلو،د خلکو د سر،مال او ناموس دحفاظت، دعمومی امینت د ټینګښت او ددی منطقی د اوسیدونکو ټولو جهادی قوتونو او بیلابیلو قومونو او قبیلو د آزادۍ ارادی د تمثیل لپاره د اسلامی امارت تأسیس یو څرګندسیاسی ضرورت ؤ.

ج- دا چه دکنړونو په ولایت کی اسلامی جهاد په مسلسله اولاینقطع توګه ددهری حکومت په مقابل کی ددی ولایت دفتحی تروخته پوری دوام درلود، د جهاد په دوران کی ددی منطقی پخوانی سمسورتیا او آبادی د روسانو دلاسه په کنډوالو بدله شوی وه او د خلکو روزمره ژوندله زیاتو مشکلاتو سره لاس په ګریوان ؤ، نوددی ولایت دبیاآبادولو دپروسی د

پرمخ بیولو په غرض داسلامی امارت تأسیس یو ښکاره اقتصادی ضرورت ؤ.

د- په ځانګړی او ټولنیز ژوند کی دموجودو اخلاقی فسادونو داصلاح کولو او دپیښیدونکو اخلاقی فسادونو دمخنیوی په غرض داسلامی امارت تأسیس یو اخلاقی ضرورت ؤ.

د اسلامی امارت دامیر په صفت د شهید(رحمه الله)دټاکل کیدلویواځینی باعث داسلام دمبارك دین هغه ځرګند اصول وو چه دیوه اسلامی حکومت دشرعی امیر په ټاکلو کی په نظر کی نیول کیږی. دشهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) په سیرت او صورت کی ټولوهغو اوصافو اوشرایطو تحقق موندلی ؤ چه دده په موجودیت کی ددی دروند شرعی مسئولیت دسرته رسولو لپاره بل څوك اهل او ورنه لیدل کیده.

او دا هغه حقیقت دی چه دشهید شیخ(رحمه الله) دوست اودشمن تری انکارنه شی کولی. داسلامی امارت دامیر په صفت دشهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) ځرګندی عملی کارنامی په لاندی ډول دی:

الف- داسلامی امارت دمربوطه اموراتو دپر مختګ په غرض د(١٤)څورلسو ریاستونو د تشکیلاتو په چوکاټ کی مرکزی او اطرافی اداری تأسیس کول اودخلکو دروزمره ژوند د ټولو اموراتو وارسی کول.

ب- دشرعی فیصلو له مخی ئی په شجاعانه توګه اسلامی حدود عملاً جاری او نافذ کړی دی:

ج-دخیوی په محاذ کی د دهری حکومت په خلاف داسلامی جهاد دسنګرونو تقویه کول او په پالنه کی ئی خاصه توجه کول.

د- د ملی شتمنیو حفاظت او د هغوی ترمیم کول.

ذ- دکنړونو په ولایت کی د مخدره اونشه ئی موادو په کشت وکر، تجارت او استعمال او دسمګلرانو په هرډول فعالیتونو بندیز لګول.

ر- داسدآباد په ښارکی سرعام د(٧٢٠٠٠)دوه اویازرو کلدارو په قیمت دنشه ئی موادو سوځول او د آینده لپاره د عبرت په توګه دهغی تجارانو ته معاوضه ورکول.

د شهید شیخ(رحمه الله) د قتل یوازنی عامل هغه غوښ او نه بدلیدونکی دریځ ؤ چه په افغانستان کی ئی د یوه واقعی اسلامی حکومت د قیام په هیله نړیوالوته وړاندی او اعلام کړی ؤ او دکنړونو د اسلامی امارت تاسیس د شهید شیخ(رحمه الله) ددغه دریځ یوه ځرګندونکی عملی نمونه وه.دشهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله)دقتل په ګډ سازش کی یو ښکاره ملوث جنایتکار عبدالله (رومی) نومی دمصر اوسیدونکی ؤ. چه دشهید شیخ (رحمه الله) دمیلمه پالنی له ښکاره خصوصیت څخه ئی په استفادی کولو دغه لوی جنایت تر سره کړ اوداسلام دصحیح عقیدی (قرآن اوسنت)دیوه ربښتینی داعی دژوند چراغ ئی په یوه حساس وخت کی خاموش کړ او په دی سازش کی دپردی ترشاټول هغه عناصر ملوث دی چه داسلام د صحیح عقیدی ددعوت په مخکی خنډ او ددی حق دعوت د پرمختګ له ویری پری آرام حرام شوی ؤ.

که د افغانستان په اوسنیو سیاسی جریاناتو کی چه داسلامی حکومت د اعلام څخه وروسته په هیوادکی رامنځ ته شوی دی،که شهید شیخ (رحمه الله) ژوندی وای نو په غوښه توګه به ئی په لاندینو مواردو کی خپل ځرګند رول لوبولی وی.

الف- د یوه خیرخواه اومعلم په توګه به ئی دټولو جهادی ګوندونو ترمنځ دداخلی ګډوډیو دمخ نیوی په غرض خپل ټول مادی اومعنوی قوت پکار اچولی وی.

ب- د یوه واقعی اسلامی حکومت د استحکام په مخ کی دپرتو ټولو موانعو اوخنډونو پرضد به ئی دمبارزی دریځ ځرګند او دحق اوباطل ترمنځ په

کشمش کی به لکه دپخوا په شان دحق او باطل په تشخیص بریالی اودحق په دفاع کی به دغرهٔ په ځیر دباطل مقابلی ته ودریدلی وای.

ددعوت په سلسله کی دشهید شیخ (رحمه الله) شخصی ابتکارات داوو چه په ملی او بین المللی سویه ئی دمخالفینو اودشمنانو دشدید مخالفت اومزاحمت باوجود د خپل دعوت لمن دافغانستان او پاکستان څخه علاوه دنړۍ نورو هیوادونو ته پراخه کړی وه . او همدغه وجه وه چه په خارجی سطحه ټولو اصیلو اسلامی قوتونو په ځان او مال سره دشهید شیخ(رحمه الله) ملاتړ کاوه او له هغه سره ئی ډیره مینه ساتله او په دی لاره کی شهید شیخ (رحمه الله) مشکلات او کړاوونه وګالل چه د بل چاله وسی او توان څخه پوره نه وو او نه ددغو مشکلاتو ګالل اوس د چاله وس او توان څخه پوره دی.

دجهاد په سلسله کی دشهید شیخ (رحمه الله) شخصی ابتکارات داوو :

الف- په پرلپسی توګه ئی په افغانستان کی د ملحدو رژیمونو په مقابل کی بدون له کوم سازش او ویری څخه داسلامی جهاد اعلام وکړ او په بین المللی سطحه ئی دافغانستان داسلامی جهاد دشرعی حیثیت په ساتنه کی پراخی هلی ځلی وکړی.

ب- دنورو اسلامی هیوادونو اصیل اسلامی قوتونه ئی دجهاد په روحیه وروزل.

چه وکولی شی په خپلو هیوادونو کی دواقعی اسلامی حکومتونو دقیام لپاره شرایط مساعد کړی.

ج-شهیدشیخ(رحمه الله) مستقیماً دجهاد دسنګر دقوماندان په صفت د جهادی عملیاتو رهبری کوله، خانه نشین، ګوشه نشین، دفتر نشین او پیښورنشین نه ؤ.

د- شهید شیخ رحمه لله داسلامی جهاد په دوران کی دټولو هغو عواملو پرضد جدی مبارزه کوله چه داسلامی جهاد دبی لاری کیدلو سبب ګرځیدل. غافل او بی تفاوته نه ؤ، دشهید شیخ (رحمه الله)وارثانو، دوستانو او د جماعة الدعوة متعهدینو ته خپل پیغام په لاندنیو څو مختصرو موادو کی خلاصه کوم:

متوجه شئ اووګورئ چه کوم د پام وړکارونه مو کړی دی. او اوس په کومو کارونو کی مصروف یاستئ. چه د شهید(رحمه الله)روح پری خوشحاله شوی وی. د خپلو دغو ډول کارونو یولنډ راپور به ددعوت دمجلی دفتر ته راواستوئ چه درنو لوستونکو ته ئی دقضاوت لپاره نشر کړی، او ستاسی په قدر دانۍ کی دګلونو ګیډۍ در واستول شی.

ب- دشهید شیخ (رحمه الله) هغه مشن اونصب العین چه مونږ ئی دژوندی ساتلو دعوه کوو،راځئ چه وګورو ترکومه حده په خپله دغه وینا کی صادق یاستو اوعمل مو په څه ګواهی ورکوی،دوی باید په هغو لارو چارو حرکت وکړی چه دهغه (رحمه الله) دروح دخو شحالئ سبب شی. او دقیامت په ورځ دهغه لاس زمونږ په ګریوان کی نه وی.

د- په دی کی شك نشته چه مونږ به د خپلی هدفمندۍ په بنا له پخوا څخه لازیات له ازمیښتونو او مشکلاتو سره غاړی وهو ، مخ به تری نه ګرځوو او په پوره تدبیر ، صبر اوزغم سره به دحالاتومقابله کوو اودشهید شیخ (رحمه الله) دشهادت دپت په خپلولو سره به داسلامی دعوت اغزنه لاره طی کوو، تذبذب، سازش اوبزدلی به زمونږ دتباهئ اسباب وی.

و- ورونو! دزمان او مکان په دی حساسو شرایطوکی باید په ښه نیت په ګډه کاروکړو، خپلی نمیګړتیاوې اصلاح او دراتلونکی لپاره پرمختللی قدمونه پورته کړو او هغه ټولنه چه دیوه خاص فکر او عقید ی په بنا ئی درهبرئ مسؤ لیت په غاړه لرو باید په خپله اینده مطمئن کړو.او دهغی دقوت او پیاوړتیا لپاره اغیزمنی لاری چاری

ولټوو.

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

محترم ورور فضل ربي کشاف

شهیدشیخ(رحمه الله)د ډیرو نیکو او صافو خاوند او ډیر زیات متواضع او حلیم شخصیت ؤ او دقرآن کریم اونبوی آحادیثو متبع او خادم ؤ. او د دین داشاعت لپاره یی خپل ټول ژوند وقف کړی ؤ، په فروعی مسائلو کی زیات اعتدال پسند او همیشه ئی دحق طرفته ترجیح ورکوله او د تعصب نه یی ځان لیری ساتۀ او د همیش لپاره یی د علماؤ او طلباؤ په مجالسو کی علمی بحثونه کول او له طالبانو څخه به یی تپوسونه هم کول. د یاودنی وړ دی چه دهمیش لپاره یی دحق تائید او دباطل تردید خوښ ؤ یعنی په سیاسی او مذهبی مسأیلو کی ئی سازش نه کولو اگر که ددوی پکی شخصی تاوان او نقصان ؤ.د شیخ (رحمه الله) د نیکو اوصافو نه یو دا هم ؤ چه هیچیرته به یی په چا باندی بدگمانی نه کوله د حسن ظن صفت په کی ډیر زیات ؤ په هر مسلمان باندی به یی نیك اعتماد کولو حتی چه په اعتماد او حسن ظن کی ئی د شهادت جام نوش کړو.

کله چه د تنظیم اساس کیخودی شو نو د شوری له ملگرو نه یی د دعوة یوه حلقه جوړه کړه، ددغی دعوتی حلقی نه چه په هغی د شوری غړی شامل وو په هره جمعه کی یو نفر منتخب کیدلو او دمهاجرینو یو کیمپ ته به تللو، د جمعی خطبه او لمونځ به یی اداء کولو او د کیمپ اوسیدونکی مهاجرین به یی توحید او سنت طرف ته دعوت کول،مرحوم شیخ(رحمه الله) به هم هره جمعه مختلفو کیمپونو ته تللو، ددعوت په ارتباط به یی د مهاجرینو له مشرانو سره ملاقاتونه کول. د شیخ (رحمه الله)دعوت دومره توسیع پیدا کړه چه په هر یو کیمپ کی ئی د دعوت د بقاء او ساتلو لپاره د کیمپونو له مشرانو نه شوراگانی جوړی کړی او ورسره یی امیر او نائب د امیر هم معین کړل. امیر به نظامی کارونه د جهاد په رابطه انجامول او نائب امیر به په داخل د کیمپ کی د نماینده په صفت د مهاجرینو د خدمت په ارتباط کار کولو. د دعوت په لار کی هیڅ قسم مشکل داعیونو ته نه پیداکیدو. د دعوت په توسیع کی مرحوم شیخ(رحمه الله) په هر یو کیمپ کی دوه مدرسی جوړی کړی وی، یوه د ذکورو لپاره او بله د اناثو په نامه حتی بعضی لیرو کیمپونو کی ئی د ذکورو لپاره دری اوڅلور مدرسی تاسیس کړی وی، پدی مدارسو کی طلباؤ ته پنځه کاله د قرآن کریم او احادیثو، نحوی، صرف او تجوید منظم او عصری علوم تدریس کیدل.

کوم وخت به چه طلباء د کیمپونو له مدارسو نه فارغ شول بیا به یی مرکزی جامعاتو او معهدونو ته راوستل او خپل درسونه به یی پدی مراکزو کی سرته رسول.

له عامو خلکو سره د شیخ (رحمه الله) تعلق او چال چلند ډیر ښه ؤ،له ټولو سره یی اسلامی اخوت او عدالت او موالات او عاطفه ساتله، همیش به یی د ټولو مسلمانانو خیرخواهی کوله او مصالح او فوائد عامه او د ترقئ اسباب ئی په کار اچول او د عامو مسلمانانو غمونه، رنجونه، تکلیفونه یی خپل گڼل او د عامو شهداؤ وارثانو ته یی تعزیت، تسلی، پیغامات او مساعدات ورکول، د کونډو، یتمیانو کفالت، تپوسونه، او پالنه ئی کوله او دعامو مسلمانانو د مساجدو په تعمیر او ترمیم کی ئی پوره همکاری کوله.

شیخ به د تل لپاره خپلو قوماندانانو ته توصیه کوله چه د نورو جهادی قوماندانانو سره په داخلی برخوردونو کی حصه وانخلئ، خپل قومندانان به یی په صبر او استقامت تحریکول،له منطقوی،قومی، تنظیمی، لسانی جگړونه یی خپل مجاهدین منع کول، همدارنگی د اکثرو جهادی تنظیمونو له قومندانانو سره یی مالی

مرستی کولی، دجهادی رهبرانو او قومندانانو سره یی تعلقات ډیر ښه وو د دینه علاوه د نړۍ په نورو هیوادونو کی ئی داسلامی تنظیمونو سره روابط او ښه تعلقات ساتل د مثال په ډول د امریکی د مسلمانانو مشر د توحید او سنت دعقیدی خاوند عبدالرحمن احد ځو کرتی په پیښور کی د مسلمانانو د استقلال او حریت لپاره له شیخ(رحمه الله)سره ملاقاتونه کړی وو،همدارنگی د چین دمسلمانانو د حالاتو لپاره یی یو وفد د خپل جماعة الدعوة نه ولیږۀ چه د هغه ملك له مسلمانانو سره د دعوت په فکرصلاح مشوری وکړی، په دغه وفد کی شیخ ابوصهیب او شیخ عبدالله محمدی او مولنا عبدالقادر صاحب شامل وو، د چین مسلمانان یی منظم کړل او تسلی ئی ورته ورکړه چه له تکالیفو سره راحت او اسانی وی، په همدی ډول د مصر د مسلمانانو د جماعة الجهاد دمشرشیخ عبدالرحمن صاحب ئی دوه ځلی دعوت کړی ؤ او په معهد شرعی کی ئی ورته محفلونه جوړکړی وو اودمسلمانانو په مشکلاتو باندی ئی رڼا اچولی وه، همدا راز د سعودی او کویت او د عربی اماراتو د تحریکونو سره یی پوره د اسلامی اخوت روابط لرل.د نړۍ د اسلامی تحریکونو روابط له شیخ(رحمه الله) سره دیر ښه وو، ټول دده د نیکو اخلاقو او اوصافو او صحیح عقیدی څخه متاثر وو او د یو ممتاز داعی او قائد په صفت یی پیژندلو.

شیخ(رحمه الله) داسی اخلاق، حسن سیرت او صورت لرلو چه په موجوده دور کی یی مثال څوك نشی تمثیلولی، له خپلو دوستانو سره ئی تعلق او روابط داسی وو لکه داعیانی ورونو په شان، ددوی حاجات او مشکلات به یی مقدم گڼل او ځان به ئی د دغه آیة مصداق گرځولی ؤ «**ویؤثرون علی انفسهم ولو کان بهم خصاصة الایة**».

له دوستانونه علاوه د عامو مسلمانانو مشاکل یی خپل گڼل او د خپل توان په اندازه یی ورسره مرستی کولی او له دشمنانو سره ئی تعلق او روابط داسی وو لکه یومعلم چه دخپلو شاگردانو د اصلاح، رشد، فلاح، او ترقئ اسباب او عوامل لټوی همدا وجه وه چه اکثر مخالفین او دشمنان یی دوستان او پلویان وگرځیدل، د هغوی د نیکو اوصافو او اخلاقو نه یی تاثر اخیست او دشیخ(رحمه الله) تر څنگه ودریدل.

شهید شیخ (رحمه الله) د خپل اسلامی دعوت او جهاد په دوران کی چه کوم شخصی ابتکارات کړی دی هغه د چانه پټ نه دی شیخ (رحمه الله) دعلماؤ منسجمول اود محصلینو تربیه کول او په داخل اوخارج کی مدارس جوړول او په کیمپونو کی دعوامولپاره دینی حلقات برابرول او د اسلامی امارت تاسیسول او دشرعی احکامو تنفیذول هغه کارنامی وی چه په زرینو کرښو کی باید ثبت شی.

(واسلام علی من اتبع الهدی)

محترم ورور شیر عالم

که چیرته صفات اودینداری، تقوی او شجاعت دامام الجهاد، مفکر اسلام شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) ولیکم نو په بیان ئی کتابونه ډکیږی خو په لنډ ډول لیکم چه زمونږ پیژندگلوی او تعارف د هموطنئ او اسلامی نقطی نظره پیل شوی او هم د تحریك اسلامی دوجی نه چه په مقابل دکمونستانو اودهریانو کی ئی صورت و مونده شروع شوه.

زمونږ او دشیخ رحمه الله تعلقات په لاره ددعوت اواسلامی تحریك کی په زیاته پیمانه ووچه پوره تفصیل ته ئی مجبوره یم.

له شیخ(رحمه الله) سره زمونږ پیژندگلوی اومعرفت څه پټه خبره نده ځکه چه دجهاد په اوله مرحله کی هم دا شحصیت ؤ چه دکنړ دولایت په مربوطاتو کی ئی ددهریانو اوملحدینو سره سخت مقاومت شروع کړاو ورو ورو ئی د کنړ له ولایت نه ټول

افغانستان ته پیش قدمی وکړه .

شهید شیخ (رحمه الله) خپل ټول عمر جهاد ته وقف کړی ؤ چه بالاخره یوساعت بیکاره نه ؤ، د اسلامی مبارزی په اساس ئی د ملحدینو او کمونستانو دحکومت یوه غټه قوه د کنړ په ولایت کی له پښو نه وغورزوله او په شا ئی وتمبوله.

تعلقات د عامو خلکو له شیخ (رحمه الله) سره په دی نسبت وو چه دی یو اسلامی شخصیت، عالم، شجاع تقویٰ دار او د غټی صله رحمی خاوند ؤ په دی سبب د عامو خلکو ورسره شفقت اومینه اوعلاقه زیاته وه.د جهاد د مسئولیت په دوره کی شهید(رحمه الله) د دهریانو مقابلی ته مجاهدین مسلح کول او د کمونستانو مقابلی ته به ئی استول.

له عامو خلکو سره د شهید(رحمه الله) دسلوك طرز د اسلامیت له نگاه ؤ او ترهغی اندازی پوری ؤ چه بیان ته ئی زه او ځما قلم عاجزه دی، چال چلندئی له جهادی تنظیمونو او خارجی اسلامی ملکونو سره داسلامیت دنگا څخه ډیر ښه ؤ اودجهادی تنظیمونو عکس العمل دهر چاسره دخپل وجدان په اندازه ؤ .دجماعة الدعوة الی القرآن والسنة دتنظیم اصلی بنیاد په قرآن او سنت ولاړؤ او دهرډول ناروا رسوماتو، شرك او بدعت پرضد مبارزه خپله وظیفه گنی، گذاره او طرزسلوك د شهید(رحمه الله)له خپلو دوستانو سره دوستانه له مینی ډك ؤ خو داسلام له دښمنانو سره ئی جهاد اعلان کړی ؤ دجهاد له قوماندانانو او مجاهدینو سره ئی اسلامی ترحم او مینه درلوده او ډیر زیات کومکونه ئی ورسره خاص دالله درضاء لپاره کول نقدی اوجنسی اوحربی کومکونه ئی له مهاجرینو او انصارو ورونو سره هم کړی دی چه دشهید مفکراسلام د لاس لیکل شوی احکام اوس هم موجوددی.د اسلام تقاضا داوه چه کومه خاوره دکفر دپنجو نه خلاصه شی باید په هغه ځمکه باندی دالله تعالی حکم نافذشی او یو اسلامی امیر وټاکل شی نو ځرنگه چه شیخ جمیل الرحمن د امارت په اوصافو او شرایطو باندی پوره سمبال ؤ نو دجهادی تنظیمونو دتصدیق اوتائید په اساس شهید(رحمه الله) داسلامی امارت دامیر په صفت وټاکل شو.دجهاد په دوران او د امارت اسلامی په درشل کی ئی شرعی فیصلی صادری کړی وی چه عبارت له رجم او قصاص څخه دی او جزئیات ئی دکنړ دولایت هر فرد ته پوره معلوم دی.شهیدشیخ (رحمه الله) د اسلام ددشمنانوڅخوا په شهادت ورسیدهٔ چه د یو نفرمصری عرب پلاس شهید شو دده په شهادت کی ټول اسلام دښمن لاسونه شامل دی چه دامنیت او حدود الله دشمنان دی بالفرض که شیخ(رحمه الله) په دی وقت او زمان کی ژوندی وی نو په تمام افغانستان کی به ئی په خاص طرز او سلوك سره د قرآن او سنت نافذیدل غوښتل.

ومن الله التوفیق

محترم ورور قاری صاحب دین محمد

له شهید شیخ (رحمه الله) سره زمونږ تعلقات یواځی د دعوت الی الله په وجه پیداشوی او په ۱۳۳۵هـ ش کال کی دا چی مونږ دتعلیم په دور کی وو، مونږ ته به یی د دعوت په هکله توصیه او لارښوونه کوله!

مظلوم شهید دتوحید یو ستوری ؤ چه په شرق کی پیدأ او وړانگو یی غرب متاثره کړی ؤ چی بالآخره د ده د شهادت باعث وگرځیدی.

دمظلوم شهیدشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) د مبارزی څلور مرحلی:

۱- د قرآن او سنت دتعلیم لپاره مبارزه وه چه په ډیرو سختو شرایطو کی، کلی په کلی وگرځید او علم یی حاصل کړ.

۲- د علم له تحصیل څخه وروسته ئی دعوت الی الله شروع کړ. د وخت ظالم حاکمان او مبتدعین

علماء او ناپوه عوام دده د مبارزی په مخ کی خنډ واقع شول خو دده په حوصله کی کوم فرق رانغلو وروسته ئی په ادارو کی تبلیغ او په مسجدونو کی تعلیم، په کلو او کوڅو کی ئی دعوت اوخپلی مبارزی ته ادامه ورکړه چی د دعوت په یوه مرحله کی زه خپله ورسره وم او یو داسی ځای ته ورغلو چی هلته ډیره یخنی وه او زمونږ لباس داسی خیرن شو او خزنده پکی پیدا شول چی د وینځلو چاره یی نه وه شیخ شهید (رحمه الله)له خپل لباس څخه خزنده په لاس وغورځول، وروسته یی لباس په اور باندی ونیوه چه څه ناڅه میکروب یی په اور باندی مړه شی، مونږ ټولو داسی وکړل داؤ په کلو او کوڅو کی د هغه د دعوت چلولو یو نمونه چه البته د حکومت د زندانونو ځای یی د چانه پټ ندی چه د هغه دا مبارزه دظاهرشاه نه نیولی د داؤدخان تر دوری پوری جاری وه چه د مبارزی دوهمه مرحله یی تشکیلوی او بالآخره په عملی جهاد تبدیله شوه.

۳- دشهید شیخ دمبارزی .دریمه مرحله عملی جهاد ؤ چه د افغانستان دکنړ په ولایت کی دده په قوماندہ اولنی عملی جهاد شروع شو او د روسانو لمړی ټغر هم له کنړ څخه ټول شو. پدی دوران کی کله چه د ببرك په وخت روسانو هجوم وکړ، د پیچ د دری د بارکنډی په کلی کی شیخ دخپلو مجاهدینو سره عملاً د روسانو مقابلی ته راغی په نوموړی جګړه کی اتیانفره مجاهدین شهیدان او څلورسوه روسان ټردار شول، دغه ورځ دروسانو هوائی او زمینی قواوی ټولی له ماتی سره مخامخ شوی.

دشهیدشیخ(رحمه الله) د مبارزی څلورمه مرحله:

دامارت اسلامی جوړول په کنړ کی: دا چه دجهاد مقصد او غایه د اسلامی نظام جوړول دی نو شهید شیخ(رحمه الله)په پوره جرئت سره دی میدان ته راوؤت. ځرنګه چی د امارت اسلامی قیام یی خپله دینی فریضه ګڼله تر څو قوم د قبایلی ژوند یعنی (جهالت)څخه راوباسی، نو امارت اسلامی ئی جوړ کړو او په خپل ژوند یی دالله تعالی قانون نافذ او حددود الله یی قایم کړل او یو اسلامی حکومت یی جوړ کړ چه بالاخره ورته د خپلو پاکو وینو په قیمت تمام شو. پدی اساس به د شهید شیخ(رحمه الله) ټول عمر په څلورو برخو وویشو.

۱- دقرآن او سنت په تعلیم او تعلم کی.

۲- د قرآن او سنت په عملی کولو کی.

۳- د حدود الله په نافذولو کی.

٤- شهادت هغه افتخار ؤ چی د ژوند آخری کامیابی ئی حسابیږی.

د مظلوم شهید یو صفت دا ؤ چه خپل یوه لحظه وقت به یی له تعلیم او تعلم څخه بی ځایه نه مصرف کاوه او اکثراً به یی د مدارسو له طلابو سره د یو مهربان استاد او حساس شاګرد په شکل بحث او مباحثه کوله.

شهید شیخ(رحمه الله) لرونکی د دی صفت ؤ اذلة علی المومنین و اعزة علی الکافرین او له غریبانانو سره به یی ځان شریك ګڼلواو د جبائره حکماؤ څخه به بی پروا او مستغنی ؤ.

په کشرانو مهربان او د مشرانو به ورسره عزت ؤ، اوله درجه دصله رحمی صفت ورسره ؤ.

د افغانستان د جهادی تنظیمونو سره شیخ(رحمه الله) پدی منظور چه د بی اتفاقی مخه ونیول شی تقریباً اته کاله یو ځای تیر کړل چه پدی دوره کی شیخ(رحمه الله) همیشه د دوی په مشوره کی ځان شریك ګاڼه.له دوی سره یواځی د توحید دعقیدی تشخیص به یی ساته کله چی شیخ (رحمه الله)له دوئ څخه ناامیده شو نو بیا ئی د «**تعاونوا علی البر والتقوی ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان**» سیاست غوره کړ او ځان یی ورڅخه جدا کړ.

همدارنګه ټول تنظیمونه د شیخ (رحمه الله) په علمیت، جرأت او امانتداری باندی قایل وو .

او دنړۍ ټولو اسلامي عقیدوی تحریکونو به له شیخ څخه فتوی اخستلی او هغه یی داسلامي انقلاب رهبر او رهنما ګانه.

د جماعة الدعوة دتاسیس اسباب واضح دی چه شیخ په اته کلونو کی پدی موفق نشو چه د تنظیمونو تفرقه ختمه کړی نو فکر یی وکړ چه تر څو تنظیمونه متحد نشی د دوی په منځ کی به حتماً برخورد او جګړی راځی، دا چی سبا ورځ له یو سره ملګری او له بل سره جنګیږم نو ښه دا ده چه یواځی دقرآن او سنت لپاره جنګ وکړم او د دوی له منځ څخه ووځم، البته په نیکو کاروکی به ورسره ملګری یم او په بدو کارونو کی به ورڅخه ځان ساتم نو دجماعة الدعوة تنظیم یی تاسیس کړ چه مقصد یی امر کول په نیکو کارونو او منع یی کوله له بدو کارونو څخه چه دا د اسلامي امت یوه اهمه فریضه ده چه باید په اسلامي امت کی یوه داسی ډله موجوده وی.

شیخ (رحمه الله) به همیشه له خپلو دوستانو سره دوستی پالله، او له دشمنانو سره یی سلوك داؤ چه هیڅکله یی له دشمن نه دبدل اخستلوسلوك نه درلوده بلکه د دشمن مقابله به یی په احسان سره کوله.

داسلامي امارت دتأسیس عوامل داوو چه په کنړکی لدی څخه دمخه دوی اداری وی چه په هغو کی حدودالله نه نافذ کیدل، پدی وجه ټول تنظیمونه راغونډ شول او د شریکی اداری فیصله یی وکړه چی نوم ئی ورله امارت اسلامي کیښود او شهید شیخ(رحمه الله) یی په سر کی راغی او حدودالله نافذ شول چه دا کاربی له اسلامي امیر څخه نشی کیدای.

د امیر په صفت د نوموړی د ټاکل کیدو باعث، په شیخ کی د هغو شرعی اوصافو موجودیت ؤ کوم چه شریعت مقررکړی.چه هغه عبارت دی له علم، جرائت دبدبه او هم د ټولو خلکو اتفاق ؤ.داسلامي امارت په دوره کی شیخ(رحمه الله) په کنړکی په شپږ نفرو حدودالله نافذ کړل، چه له هغی جملی څخه دوه نفره په مرکز اسعدآباد کی قصاص او دوه زناکاران په وټه پور کی رجم او هم دوه نفره په خیوه کی قصاص شول او د اسلامي امارت سیاسی قانون یی قرآن او سنت وټاکل.

دشهید(رحمه الله)دقتل له عواملو څخه یو دا دی چی د شهید (رحمه الله)د شخصیت او اسلامي امارت برداشت هیڅ تنظیم نشو کولای کله چه اسلامي امارت جوړ شو، د افغانستان مسلمانانو ته دا اطمینان پیدا شو او هم د نوری دنیا دمسلمانانو توجه یی جلب کړه، تنظیمونو ددی اداری د مقابلی لاره ونه لیده د شیخ د شهادت اقدام یی وکړ.

که شیخ (رحمه الله) ژوندی وای پدی اساس چه اسلامي امارت یواځینی مرکز د امنیت ؤ فعلاً به ئی په ټول افغانستان د اسلامي امارت حاکمیت حاصل کړی وی،څکه چه دامارت اسلامي نه غیر دا تنظیمونه امنیت نشی راوستلای .

د شیخ(رحمه الله) ابتکارات د عملی جهاد شروع،د اسلامي امارت قیام او د قرآن اوسنت ټاکل د اساسی قانون په توګه.

د شهید شیخ(رحمه الله) وارثانو او دوستانو ته زمونږ پیغام دادی چه د شهید شیخ (رحمه الله) خط مشی تعقیب کړی او شهیدشیخ (رحمه الله) چه کومه مادی او معنوی سرمایه دقرآن او سنت په نامه کمایی کړیده هغه دی د دعوة په لاره کی مصرف کړی او بی اتفاقی دي نه کوی دوهم له خبری اداری څخه دا خواهش دی چه یوه ورځ پاڼه په لاندی نومونو نشر کړی:

۱- باب الجهاد «کنړ» چه د کنړ داخلی حالات نشر کوی.

۲- باب الفتح «کنړ».

۳- د توحید جاله«کنړ»

٤-امام الجهاد(شیخ)

نوم یاد شوی لکه چه امام ابن جریر فرمائی:دملأ القوم دپریکړی پابندی په مسلمانانو لازمه ده.(ابن جریرجلد۲)

ابن منتظور لیکی چه: **الملأ الروساء وقیل اشرف القوم ووجوههم و روساء هم ومقدموهم الذین یرجع الی اقوالهم.** (لسان العرب ج ۱).

یعنی د الملأ څخه مقصد د قوم مشر او شریف نماینده وی چه قوم ټاکلی وی او د هغه د خبری په لور رجوع کیږی.

او کله د ملت دغه استازی د اولوالامر په نوم یاد شوی چه هدف تری فقها، حکام او ټول سیاسی مشران دی. د امر د خاوندانو اطلاق په ټولو ملی او قومی نمایندگانو هم کیدی شی لکه چه ابن کیسان رحمه الله فرمائی:**هم اولوا العقل والرای الذین یدبرون امر الناس.** (قرطبی ج ۵).

یعنی اولوالامر د ملت عاقل او پوه خلك دی چه د ملت په معاملاتو کی له تدبر څخه کار اخلی.

ابن زجاج فرمائی چه: د اولوالامر څخه مقصد هغه خلك دی چه د مسلمانانو د دینی امورو، گټو او ټولو نیکو کارونو لپاره ملا تړلی ولاړ وی.

د اسلام پوهان د ملت نمایندگانو ته په عمومی ډول اهل الحل والعقد وائی یعنی د قوم مسؤلین او نمایندگان چه د خلکو د اعتماد وړ وی. شیخ محمد عبده رحمه الله فرمائی: «له هغو اولوالامر څخه چه ذکر یی په قرآن شریف کی راغلی مقصد د رای او بصیرت خاوندان دی چه د اسلام په اصطلاح کی ورته اهل شورا یا اهل حل وعقد وائی. دا د هیواد هغه مسؤلین دی چه نور قومونه ورته د ملت نمایندگان وائی او ضروری ده چه ټول انتظامی او سیاسی امور دی همدوی ته په غاړه واچول شی.»

همدغو عرفاؤ، نقباؤ، ملأالقوم، اولوالامر او اهل الحل والعقد ته په اوسنی عصر کی د ملت نمایندگان، د قوم نمایندگان یا د پارلمان غړی وایی او په اسلامی اصطلاح کی ورته د شورا د غونډی ارکان وائی. دغه اداره د هیواد د مسایلو په باب د قرآن او سنت او د سلفو صالحینو د سنتو په رڼا کی فیصله صادروی.

خو لکه څنگه مو چه وړاندی د بشریت د لارښود د مبارك حدیث په استناد وویل مشوره امانت دی چه باید اهل خلکو ته وسپارل شی د اسلامی شورا غړیتوب هر چاته نه شی سپارل کیدی او نه ورته هرسړی د کاندید کیدو حق لری.

که د شورا نوم، شورای حل وعقد وی، که لویه جرگه، که پارلمان او که ملی شورا خو ضرور دا ده چه د ارکانو لپاره یی د اهلیت معیار وټاکل شی.

د اسلامی هیواد د شورا ارکان باید د اهلیت په لاندینو معیارونو کره وخیژی:

۱- **ایمان:** څنگه چه د اسلامی قوانینو تشریح او تعبیر، په غیر منصوص چارو کی اجتهاد، داسلامی نظام د انفاذ لپاره د غوره تدبیرونو نیول او د دولت د رئیس او صدراعظم ټاکل د شورا د غړو له سترو دندو څخه

۵- کنړ .

والسلام

محترم ورور مولنا کوهر رحمن صاحب

دحضرت شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) سره زما لمړنی ملاقات د جهاد د شروع کیدو په وختونو کی شوی ؤ، چه هغه یوازی او یوازی د یو عالم دین په حیث د هغه پیژندنه وه.

علماءکرام خو دالله تعالی فضل دی ډیر دی او د ټولو قدر په کار دی، لیکن شهیدشیخ(رحمه الله)یو صحیح العقیده عالم ؤ. چه د یو عالم عقیده د توحید او سنت برابر وی او د توحید او سنت مطابق کار کوی که له هغه سره په کومه فرعی مسئله کی اختلاف وی، خو چه عقیده یی د توحید او سنت په بنیاد وی نو هغه حق پرست وی. دده په با ب دا تأثر له پخوا نه ؤ چه نوموړی یو حق پرست عالم ؤ.

د جهاد په دوران کی نوموړی یوه لویه کارنامه وکړه چه د نورو مسلمانانو سره سره د جهاد آغاز یی وکړ. او همدارنگه د کنړ د ولایت په آزادۍ کی د نوموړی دخل ؤ نو لدی وجی نه ورسره زما محبت زیات ؤ. په نوموړی کی بله دا خبره وه چه د هغه له علماء کرامو او طلباؤ سره محبت ؤ، هغه به ټولو دینی مدارسو ته تللو او همدارنگه دلته د تفهیم القرآن مدرسی ته یی هم څو څو ځله تشریف راوړی دی او د ټولو علماؤ او طلباؤ سره به یی ملاقاتونه کول هسی په کار خو دا وه چه مونږ د هغه د ملاقات لپاره تللی وای، خو هغه د خپل محبت له امله چه لرلو یی، دلته به راتللو الله تعالی دی د هغه شهادت پخپل دربار کی قبول کړی!

څومره چه زه معلومات لرم، د کنړ په ولایت کی د لمړی ځل لپاره د کمونستانو خلاف آواز شهید شیخ (رحمه الله) پورته کړی ؤ او په مسلح جهاد یی لاس پوری کړی ؤ، د الله تعالی په فضل کله چه د کنړ ولایت د کمونستو خلکو له قدم څخه پاك شو، نوموړی چه د قرآن او سنت د علومو د اشاعت لپاره کوم بنیادی کار کړی دی هغه له هیچا څخه پټ ندی.

زمونږ پیغام دجماعة الدعوة علماؤ او ټولو مسلمانانو ته دادی چه په قرآن او سنت باندی اتحاد او اتفاق په کار دی، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چه مونږ ته کوم میراث پریښی دی هغه قرآن او سنت دی.

«د مؤمنانو اتحاد او اتفاق په یو فقهی او فرعی مسلك باندی منځته نشی راتلای بلکه د اتحاد او اتفاق منځته راتگ یوازی او یوازی په قرآن او سنت باندی راتلای شی.» بله خبره چه زه ډیره ضروری گنم هغه د قرآن او سنت اجماعی احکام چه په هغه باندی ټول امت متفق دی او د هغو په تشریح،تفسیر اوتعبیر کی څه اختلاف نه شته نو په هغو کی د اختلاف څه سوال نه پیدا کیږی، که څوك دا نه منی هغه خو مسلمان نه دی. لیکن دوهم هغه احکام دی چه د قرآن او سنت په تعبیر، استنباط او تشریح کی اختلاف وی که هغه خطا هم وی خو چه نیت یی د قرآن او سنت برابر وی، الله تعالی ورته اجر ورکوی او که صحیح وی نو الله تعالی دوه اجرونه ورکوی، که ددی مسایلو اختلافات هر هغه څوك پیدا کوی، د فرقه ورایت او گروه بندۍ ذریعه ده.د یو آیت او یو حدیث په صحت کی چیری هم د مسلمانانو اختلاف نشته.

زما اخری خبره دا ده چه حضرت مولنا چه کوم دینی مدارس قائم کړی وو او د هغه مدعا په مسلمانانو کی د قرآن او سنت روحیه بیدارول وو، د جهاد بیدارول وو، په مسلمانانو کی د اتحاد او اتفاق بیدارول وو، د هغه دغه لاره او طریقه تعقیبول په کار دی.

(والسلام)

محترم مولانا محمد عنایت الرحمن

زما نه مطالبه شوی وه چه زه به د عظیم شخصیت، عالم، فاضل،مجاهد شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) په هکله څه لیکل وکړم چونکه زه

ادیب، لیکوال نه یم او مبالغه کونکی هم نه یم لهذا مختصراً به څه ولیکم:

زما له شهید مظلوم ورور شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) سره بنیادی سبب دتعلق عقیده دتوحید په تکوینی امورو کی او په تشریعی امورو کی د- غسی په اتباع د سنت په انفرادی او اجتماعی ژوند کی دی او دا تعلق تقریباً د پنځلس کاله څخه دی او په دی وجه دده د شهادت له خبر سره سم می په جنازه د مرحوم کی هم شرکت کړی او په وخت حاضر شوی وم.

د تعارف نه وروسته زمونږ تعلقات دیر مظبوط وو په بار بار درګۍ دارالعلوم کی حاضریده حتی چه د شهادت نه یوه هفته مخکی د هغوی په ځای د رهائش کی می ملاقات او د هغوی له طرفه په دعوت د چای باتکلف کی مو شرکت شویدی.

مظلوم شهید (رحمه الله) عالم، فاضل، مجاهد، امام شخصیت ؤ چه د دین د پاره یی دعوت او جهاد بالید او جهاد بالقلب والبدن بالمال والسان سرته رسولی دی.

دمظلوم شهید(رحمه الله)د دعوت د رسولو په سلسله کی هجرت، د دین دعوت او د علم دین خدمت، د مساجدو قیام، د مدارسو انتظام او د حق پرستو علماؤ حمایت او ربط تواضع، او بی تکلفی د هغه د ژوند ښکاره نخښی دی.

له عامو خلکو سره د شیخ (رحمه الله) تعلق او چارچلند مخلصانه، برادرانه او شفیقانه وو حتی چه د مدارسو اسلامیه ؤ د طلبه و سره یی د یو مشفق استاد غوندی تعلق لرل.

دجماعت الدعوة الی القرآن والسنة افغانستان د تنظیم د تأسیس سبب زما د پوهی مطابق اصلاح د فکر ونظم ؤ، د هغوی خیال دا ؤ که چیری افغانستان د کمونیزم د جال نه آزاد شی او عقیده خرابه وی د حلال او حرام معیشت فرق نه وی، که د خدای د نظام پر ځای مارکسستی نظام یا امریکنی نظام یا سرمایه دارانه نظام قائم شی او عقیده خرابه وی د سنت او بدعت فرق نه وی د معروف او منکر فرق نه وی د قبر پرستۍ نظام قائم وی د قرآنی احکامو په ځای جاهلانه نظام وی د معصوم پیغمبر صلی الله علیه وسلم په مقابله کی د غیر معصوم قول سند وی لکه چه په پاکستان کی پنځه څلویښت کاله اوشول تا حال سود ته په دربا ری مقاماتو کی د حلال وینا شروع ده د قرآن مجید احکامو ته د. بربریت وینا او اسلامی نظام ته د فرقه واریت نوم ورکول د سیکولیر یزم وینا ښه ګنلی کیږی د اصول پرستی نه فرق کیدلی شی نو له داسی آزادی نه نه آزادی ښه ده او څه فرق نه راځی.

د مظلوم شهید (رحمه الله) تعلق له دوستانو سره ئی وفاداری د مبالغی تر حده پوری او له مخالفینو سره ئی د عفو صفیح تعلق ؤ البته له کافرانو سره تعلق ئی ددی آیت کریمه په رڼا کی وو:

اشداء علی الکفار رحماء بینهم.

که شهید (رحمه الله) ژوندی وای نو ظاهره ده چه د حق په مرسته او د باطل په خلاف به جنګیدو په لاس سره په خولی سره په زړه سره او حتی المقدور د اسلامی طاقتونو په منځ کی به ئی د مصالحت کوشش کاوه.

دشهید(رحمه الله) کارنامی تعمیر مساجد، تعمیرمدارس د یتیمانو او کونډو مدد ؤ، په حدیث شریف ئی عمل ؤ:**من ترك ما لاً فلورثة ومن کلاً وضیاعاً فالینا.**

د شهید (رحمه الله) د ورثه ؤ د پاره ان لله ما اخذ وله ما اعطی وکل شی عنده باجل مسمی فلیصبروا ولیحسبوا (بتغیر ما فی الحدیث)

او دده ورثه و او متعهدینو د پاره هغه وینا چه ابوبکر الصدیق رضی الله عنه کړی وه په وخت د وفات د سردار عالم محمد صلی الله علیه وسلم کی **من کان یعبدو محمداً فان محمداً قدمات و(بادنی تغیر) من کان یعبد الشیخ جمیل الرحمن فان الشیخ قدمات ومن کان یعبدالله فان الله لایموت.**

ستاسو پوښتنې دقرآن او سنت په رڼا کې

له کوهات څخه محترم ورور محمد اکرم په خپل اوږد لیك کی لیکی: په گلگت، چترال او هونزا کی د آغاخان پیروان ډیر زیات دی، د آغاخان فاوندیشن په نوم تنظیم په دغو سیمو کی د پیسو په قوت زیات پرمختلی او اوس یی نورو سیمو ته هم سرایت کړی دی. دغه تنظیم نن سباپه پیښور، چارسده او کوهاټ کی په فعالیت بوخت دی او کوښښ کوی چه خلك جذب کړی، د پاکستان شمالی سیمو ته زیات شمېر تربیه شوی چالاکان او په درواغو او فریب کی ماهر کسان د خلکو د تیرویستلو لپاره په کار گومارل شوی، د مربوطه سیمو د بارسوخو اشخاصو په ملاتړ د لارو او پلونو د جوړولو او د سرکونو د تعمیر او ترمیم او نورو تعمیری کارونو په وسیله غواړی خپل اهداف وړاندی بوځی. که مهربانی وکړئ او زما دی پوښتنو ته مناسب ځوابونه تهیه کړئ:

۱- آیا آغاخانی فرقه د مسلمانانو کومه ډله ده که له اسلام نه بهر ده؟

۲- آیا له دغی ډلی سره دوستی جایزه ده؟

۳- د دغی ډلی د سرپرستی لاندی تنظیمونو او مؤسساتو څخه مرسته غوښتل او یا ددغو تنظیمونو غړیتوب اخستل یا ورسره همکاری کول جایز دی که نه؟

مهربانی وکړئ دغو پورتنیو پوښتنو ته داسی ځوابونه ورکړئ چه د عامو خلکو ذهن ورباندی روښانه شی او په دغه برخه کی موجود شکوك او شبهات رفع شی.

اداره: دغو پوښتنو ته د ځواب ورکولو نه وړاندی ضروری خبره داده چه زمونږ گران لوستونکی باید د آغاخان د ډلی له عقایدو او نظریاتو سره پېژندگلوی پیدا کړی تر څو په آسانی سره په ځوابونو پوه شی او عام مسلمانان هم ددوی له عقایدو څخه خبر شی:

۱- اسماعیلیان عقیده لری چه د دوی هر یو امام عالم الغیب و الشهادة دی.

۲- قرآن مجید د الله تعالی کتاب نه دی بلکه د صحابهٔ او نورو کسانو تصنیف دی. (العیاذ بالله)

۳- عبدالمطلب اوابوطالب پیغمبران ووبلکه پیغمبر جوړوونکی وو هغوی محمدصلی الله علیه وسلم ته پیغمبری وربخښلی وه.

٤- علی د الله رسول ؤ.

٥- نبی کریم صلی الله علیه وسلم غیر معصوم ؤ مگر علی رضی الله عنه اونور امامان ټول معصومان وو او له نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه څلور درجی فضیلت لری.

٦- اووم امام(محمدبن اسماعیل) شریعت محمدی منسوخ کړیدی.

۷- په لااله الاالله کی له (الله) څخه مقصد امام الزمان دی.

۸- له پیغمبر څخه د امام درجه لوړه ده ځکه چه دامام وظیفه د پیغمبر له وظیفی څخه مهمه او درنه ده.

۹- علی رضی الله عنه رب الکاینات دی.

۱۰- قرآن مجید څلویښت پاري دی.

۱۱- حضرت علی رضی الله عنه کولی شی چه په خپل طاقت سره دچا گناه وبخښی او جنت ته یی واستوی.

۱۲- د امامانو فرمان له هر چا نه مقدم دی.

پورتنی دولس مواد په لاندینیو کتابونو کی پیدا کولی شئ.

۱- الشموس الزاهرة- حاتم بن ابراهیم صفحه ۱۰۰.

۲- سرایر النطقأ- اقتباس له «زمونږ اسماعلي مذهب اودهغه نظام» صفحه ۱۰٤.

۳- ٤- سرایر النطقأ صفحه٦٥ د«اسماعیلی مذهب» د ۷۰ صفحی په حواله.

٥- سرایرالنطقاء صفحه ۲۸۲.

٦- سرایرالنطقاء د« اسماعیلی مذهب» د صفحه ۱۳۳ په حواله.

۷- تأویل الشریعة د اسماعیلی مذهب صفحه ۱۳٤ په حواله.

۸- مارگ درشیکا حمه اول صفحه ٦۸.

۹- د«مقدسو گناهونومجموعه» صفحه ۱۰۲.

۱۰- پورتنی کتاب صفحه ۹٥.

۱۱- کلام امام مبین جز اول صفحه ٥۷.

۱۲- کلام الهی صفحه ٦۲.

د آغاخانیانو د پورتنیو عقایدو په رڼاکی ستاسو پوښتنی ته داسی ځواب ورکوو:

۱-ددغو پورتنیوعقایدو لرونکی ډله(آغاخانیان)کافران دی او د هغوی په کفرکی هیڅ شك نشته.

۲- له هغوی سره دوستی او موالات ساتل جایزنه دی، په قرآن مجیدکی ډیر ځله مؤمنان له کافرانو سره له دوستۍ څخه منع کړی شویدی.

۳- که دغه ډله دخپلو تنظیمونو او کمیټو په وسیله د خپلو کفری نظریاتو او عقایدو د خپرولو کوښښ کوی نو د هغوی سره مرسته کول او یا ور څخه غوښتل، دهغوی په تنظیمونو کی غړیتوب حاصلول ناجایز او د اسلامی غیرت او شجاعت په خلاف عمل دی.

دلیکونو بهیر

دعـــوت مجله

پوست بکس: ٦١٤- G.P.O- پشاور

محترمو د دعوت پښتو مجلی مدیر او نورو هم قدمو ملګرو!

ورونو: د باران له ځاځکو څخه زیات سلامونه ستاسو عالی مقام ته وړاندی کوم.

د دعوت مجله مو مطالعه کړه، له مطالعی څخه یی زیات مستفید شوم.

الله تعالی دی دا مجله نوره هم د قرآن او حدیث په زیات معلومات سره ښایسته او روښانه کړی.

د ١٤١٢هـ ش کال د شعبان او رمضان د میاشتو په ګڼه کی د لعل محمد «افسوس» صاحب یو داستان د (بوټان) تر عنوان لاندی نشر شوی ؤ که همداسی لنډ لنډ داستانونه چه له عبرت څخه ډك وی، په مجله کی همیشه نشر شی د مجلی ښکلا به نوره هم سیوا شی.

الله تعالی مو د دعوت په کار کی تل کامیاب او د ټولی نړۍ د هدایت ذریعه وګرځوه.

والسلام

نجیب الله «حقیار» د باجوړ ایجنسۍ د کرهالی له کیمپ څخه.

ددعوت مجلی کارکوونکو ورونو!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

له سلامونو وروسته الله تعالی دی تاسو ته ددین په خپرولو کی نور هم توفیق درکړی!

ګرانو ورونو: مونږ د دعوت مجله ښه په غور او سوچ سره مطالعه کوو، ستاسو په زړۀ پوری مضامین مو ډیر خوښیږی.

مونږ یو تجویز درلیږو هیله ده چه غور پری وکړئ او هغه دا چه په مجله کی په رفع الیدین، فاتحه خلف الامام، امین بالجهر، اته رکعته د تراویح لمونځ او داسی نورو مسایلو باندی که مفصل مضامین خپارۀ شی نو د ډیرو لوستونکو لپاره به د فهم او عمل ذریعه

وگرځی.

والسلام

ستاسو ورور ابو حنیف الله محمد خطاب له حاجي زائي کیمپ څخه.

د اسعدالله شاهین لخوا د دعوت مجلی مدیر او نورو کارکوونکو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

له هر څه دمخه ددعوت مجلی کامیابی غواړم!

ورونو: ستاسو د دعوت مجلی مضامین دومره خوازۀ او دلچسپ دی چه زه یی د نورو مجلوله کتلو څخه عاجزه کړی یم او الله تعالی دی نور داسی بری در په برخه کړی چه د دعوت مجلی ښکلا او ښایست د لمر د وړانگو په څیر روښانه او د کتونکو د مطالعی شوق او زوق کاملاً خپل کړی، تر څو ددعوت له مجلی څخه مستفید شی.

والسلام

ستاسو کشر ورور اسعدالله "شاهین"

د کنړونو د اسلامی امارت د کنلك گارد څخه سیدرحمن ورور داسی لیکی:

د دعوت مجلی محترم مدیر او نورو کارکوونکو!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

محترمو ورونو: ستاسی د هری گنی مجلی په لوستلو او کتلو سره زمونږ علم او پوهه لا پسی زیاتیږی. د شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) قیمتی او ارزښتناکی ویناگانی په کی زمونږ عقیدی مضبوطوی او همدارنگه په هر ډگر کی ثابت قدمی را بخښی که تاسی د شهید شیخ دغه ویناگانی نوری هم نشر کړئ، ډیره به ښه وی.

والسلام

ستاسی ورور سیدرحمن

دجندول د معیارو له کیمپ څخه لایق الدین «افغانی» ورور لیکی:

محترم د دعوت د پښتو مجلی مدیر او نورو کارکوونکو!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

له هر څه نه مخکی ستاسو د ټولو روغوالی او سلامتیا د لوی او متعال رب څخه په هر وخت کی غواړم! او وروسته لدی د شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) او دافغانستان دجهاد ټولو شهداؤ ته د زړهٔ له کومی دعا کوم!

زمونږ د لیك د درلیږلو مطلب دا دی چه د دعوت په مجله کی اسلامی، جهادی، اود نورو تاریخی واقعاتولیکنی ته دوام ورکړئ چه په ټوله نړۍ کی د عبرت نمونه وګرځی. فقط ستاسی د لازیاتی کامیابئ په هیله.

والسلام

محترمو د دعوت د پښتو مجلی لوستونکو!

سلامونو ته مو په مینه او خلوص وعلیکم السلام وایو. ستاسو د نیکو هیلو او احساساتو ډیره ډیره مننه!

ورونو: د دعوت مجله همیشه دا کوښښ کوی چه د لوستونکو د فایدی لپاره پخپلو مضامینو کی اضافه وکړی، مګر ستاسی غوندی د زیرکو زلمو هر اړخیزو وړاندیزونو ، نیوکو او لارښوونو ته ضرورت لری، که تاسی خپله قلمی همکاری وکړئ، انشاءالله چه د دعوت مجله به خپل معیاری نُور-نور هم پسی زیات کړی.

د محمد خطاب ورور په ځواب کی وایو چه که تاسی زمونږ د مجلی یو عنوان ته چه «ستاسو پوښتنې د قرآن او سنت په رڼا کې» لوستلی وی د همدی مسایلو د حل لپاره مونږ شروع کړی دی. مونږ ته دغه ډول مسایل دی عنوان ته راولیږئ مونږ به انشاءالله تر خپلی وسی ستاسو پوښتنی څومره چه ممکن وی حل کړو، همدارنګه د ټولو لوستونکو هر ډول وړاندیزونه مونږ په ډیر غور لولو او د امکان په صورت کی ورته د عمل جامه اغوندو، هیله ده چه تاسی به هم زمونږ لیکنه په غور سره مطالعه کړئ. ستاسی د لازیاتئ قلمی رابطی په هیله!

(اداره)



بسم الله الرحمن الرحيم

عن ابي هريرة رضي الله عنه ان رسول الله صلي الله عليه وسلم قال: «كل امتي يدخلون الجنة الامن أبي» قيل: ومن أبي يا رسول الله؟ قال: «من اطاعني دخل الجنة ومن عصاني فقد أبي»

(رواه البخاري)

ترجمه: از ابوهريره رضي الله عنه روايت است كه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمود: همه امتم به بهشت داخل مي شوند مگر كسي كه سرباز زند. گفتند چه كسي سر باز مي زند يا رسول الله؟ فرمود آنكه ازمن پيروي كند داخل بهشت ميگردد وآنكه نا فرماني مي كند به تحقيق سر باز زده است

دحق دبڼ بلبل

شهید شیخ جمیل الرحمـن (رحمه الله)

ته دحـــق دبڼ بلبل وی، ارمـــانـــونه درســـره وو
دتوحـــید عـــلـــمبرداره، مشـــالونه درســـره وو
د بدعت اوشـــرك دشمـــن وی، عقیـــده دي وه راسخه
داســـلام ددین داعـــی وی، پیـــغامـــونه درســـره وو
تانیـــولی دحـــق لاروه، په دی لاره کـــی قربـــان شـــوی
دجهاد ســـتره ســـالاره، ته شهـــید په پاك قـــرآن شوی
لوی عـــالم وی باعمـــله ، مجتهد اوســـیاستـــدان وی
داسلام ځلانده ستوری دنـــړی په هســـك آسمـــان وی
د دنیـــا بت پرستـــان دی، لـــه نامـــه نه په هیبـــت وو
پاك دعوت دی وظیـــفه وه، په رښتیا عظیم انســـان وی
داستانوم به تل ژوندی وی، ترڅو ځمکه څو اســـمان وي
ستـــادلاری پیـــروان به، ستـــا په پاکـــه لار روان وي
ته مـــالیـــار مودچمـــن وی، دی شاهـــد دکنـــړ غـــرونه
کـــه وارۀ دی کـــه زارۀ دی، یادوی دی خـــدمـــتونه
ته مـــړنه یی تـــه ژوندی یـــی ، تـــرابده به ژوندی یـــی
ستـــا د وینو هـــریو څاڅکی ، غـــوړوی رنـــگین گلـــونه
رســـوو به خپـــل منزل ته، ستـــا د هیلـــو کـــاروانونه
دســـرونو په بـــدل به، کـــړو پوره ســـتا آرمـــانونه

شمیرل کیږی نو که یو سړی په اسلامی احکامو باندی ایمان او عقیده ونه لری څنګه به دغه ستره وظیفه سرته ورسوی؟

د مسلمان امت د نمایندګانو لپاره تر ټولو ضروری خبره دا ده چه هغه به په توحید، رسالت، ختم نبوت او د قرآن او سنت په قاطعو احکامو ټینګ او غیر متزلزل ایمان او اعتماد ولری.

البته د غیر مسلمو اقلیتونو نمایندګان دځانګړو انتخاباتو له لاری د شورا د غړیتوب ویاړ تر لاسه کولی شی.

۲- **فقاهت**:د اسلامی هیواد د شورا غړی باید د دولت د اساسی قانون په باب پوره معلومات ولری نو څنګه چه د اسلامی حکومت اساسی قانون قرآن او سنت دی، د شورا غړی ته پکار دی چه په کتاب او سنت او اسلامی احکامو کی ژوره پوهه ولری. دا ضرور نه ده چه د کوم دارالعلوم سند دی ورسره وی خو د ضرورت په اندازه په دینی علومو کی باید لاس ولری.

۳- **عدالت او دیانت**:الله تعالی په قرآن عظیم الشان کی د مسرفینو، مترفینو، فاسقانو او فاجرانو اطاعت منع کړی دی او رسول الله صلی الله علیه وسلم مشاورینو ته د امین، موثق او خیرالناس القاب ورکړی او مسلمانانو ته یی هدایت کړی چه له عابدینو او زهدینو پوهانو څخه په خپلو چارو کی مشوره تر لاسه کړی نو ضروری خبره دا ده چه د اسلامی هیواد د شورا د غونډی غړی به د اسلامی فرایضو پابند او د فوا حشو او کبایرو مرتکب به نه وی. په دغه برخه کی یوازی دومره غور پکار دی چه کاندید باید په خپله سیمه کی په عدالت او دیانت شهرت ولری او د نیک نوم څښتن وی او خلك یی په رښتینی توب او پاکئ ګواهی وکړی.

٤- د مسلمانانو د اکثریت له ملاتړ څخه برخمن وی ځکه کیدی شی چه د پورتنیو صفاتو د لرونکو کسانو شمیر زیات وی نو ضرور ده چه د ترجیح د اصولو په رڼا کی داسی شخصیت د اسلامی شورا غړی ومنل شی چه د اهلیت او لیاقت سره سره د مسلمانانو کامل اعتماد هم ورسره ملګری وی، یوازی په اهلیت او لیاقت د خلکو وکالت نه شی کیدی بلکه د خلکو باور او ملاتړ هم تر لاسه شی.دغه اعتماد که د رای ګیرئ په شکل وی او که د رواج او سیمه ایز عرف له مخی د جرګی په واسطه لاسته راوړل شی.د شورا غړی په حقیقت کی اولوالامر دی او اولوالامر هغه دی چه خلکو پخپله خوښه ټاکلی وی نه دا چه کاندید شی.

له الله تعالی څخه هیله کوو زمونږ مؤمن او مجاهد ملت ته دا توفیق ور په برخه کړی تر څو په هیواد کی د اسلامی حکومت د جوړښت، د اسلامی نظام د انفاذ او د هیواد د بیا آبادئ او سوکالئ د سترو فرایضو د سرته رسولو لپاره مجوزه شورا ته داسی کسان د خپلو استازو په حیث معرفی کړی چه په ایمان، دیانت او لیاقت ئی ټینګ باور او اعتماد موجود وی او د شخصی او تنظیمی ګټو څخه ورته د اسلام او افغانستان مصالح محترم وی. (آمین)

مؤمن پېژندنه د قرآن او سنت په رڼا کې

د شیخ سمیع الله لیکنه

مسلمان، چه په زړه کی یی په الله تعالی،آخرت،پیغمبرانو علیهم الصلوة والسلام او ملایکو اومقدسو کتابونو باندی د ایمان ابدی رڼاموجوده وی، وظیفه او مسؤلیت یی دا دی چه تل تر تله به د الله تعالی د احکامو پیروی کوی او هیڅکله به داسی کار ته لاس نه اچوی چه د ایمان د تقاضاء خلاف وی او دهغه په وجه د الله تعالی له طرفه دعتاب مستحق او دالهی رضاء په ځای د هغه د قهراو غضب مستحق کیږی، همدغه ده د ایمان تقاضاء او همدغه ده دمؤمن فریضه.

په ښه شان د دغی فریضی د سرته رسولو لپاره ضروری ده چه مؤمن باید تر ټولو لومړی د قرآن او حدیث علم زده کړی او ددغه علم په رڼا کی دخپل ژوند ټول مسایل حل وفصل کړی او د قرآن او حدیث په مقابل کی د هیچا حکم ته ارزښت او اولیت ورنکړی.

دصحابه کرامو رضوان الله علیهم، تابعینو، تبع تابعینو، سلف صالحینو، د دین د امامانو او د امت دمجتهدینو ټولی خبری او اقوال باید د قرآن او سنت په تله و تلل شی که د هغوی اقوال دقرآن او سنت سره مطابق وی باید ومنل شی او کنه نو باید قرآن او سنت نبوی ته ترجیح ورکړی شی.

خو دا خبره په هیڅ ډول داسلامی شریعت سره مطابقت نلری چه د الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم نه علاوه بل چا ته هم دامقام او مرتبه حاصله ده چه دهغه شخصی اقوال او اجتهادی فیصلی بیله دی چه د الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم له احکامو سره مقایسه شی، په دین کی د کتاب او سنت په شان حجت او په هر حالت کی د امت لپاره واجب الاطاعت وګرځول شی او بی له کومی خبری په پټو سترګو د هغو داقوالو اطاعت وشی. دغه مقام او دغه مرتبه د الله تعالی او دهغه د منل شوی پیغمبر رسول الله صلی الله

علیه وسلم نه پرته بل چاته حاصل نه ده ځکه چه د اطاعت مستحق یوازی دالله تعالی ذات دی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم صریح احکام دمسلمانانو لپاره واجب الاطاعت دی.

الله تعالی فرمائی:

من یطع الرسول فقداطاع الله.

ځوك چه د رسول اطاعت وکړی په حقیقت کی یی د الله اطاعت کړی دی.

خو نور بشری قوتونه د مطلق اطاعت مستحق نه دی غیرله دی چه د هغوی په اطاعت کی د الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت مضمروی، یعنی الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغوی د اطاعت حکم کړی وی.

دغه ده دایمان اصلی تقاضاء چه په پوره صراحت سره په قرآن او سنت کی موجود دی. زمونږ د پورتنی ادعا د ثبوت لپاره راځی چه قرآن او آحادیث متبرکه ته مراجعه وکړو:

واطیعوالله واطیعو الرسول فان تولیتم فانما علی رسولنا البلاغ المبین

(التغابن۱۲)

یعنی د الله تعالی اطاعت وکړی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت وکړی او که له اطاعت څخه مخ واړوی نو زمونږ په پیغمبر باندی یوازی د احکامو رسول فرض دی او بس.

قل اطیعوالله والرسول فان تولیتم فان الله لایحب الکافرین.

(آل عمران۳۲)

ترجمه: ورته ووایه چه دالله او د پیغمبراطاعت وکړی، که یی له اطاعت څخه مخ واړاوه نو بیشکه چه الله تعالی کافران نه خوښوی.

د الله تعالی او پیغمبر صلی الله علیه وسلم اطاعت د ایمان ملاك او نخښه ګڼل شوی ده اودا خبره هیڅکله هم د ایمان سره مطابقت نه لری چه الله تعالی او دهغه رسول صلی الله علیه وسلم کوم حکم صادر کړی او ایمان لرونکو ته دا آزادی حاصله وی چه په دغو احکامو باندی عمل کوی او که ورسره مخالفت کوی. دغه کار هیڅکله هم د ایمان سره برابر نه دی بلکه په حقیقت کی د ایمان ضد او منافی کار دی.

قرآن مبارك اعلان کوی چه:

فلا وربك لایؤمنون حتی یحکموك فیما شجربینهم ثم لایجدوا فی انفسهم حرجاً مما قضیت ویسلموا تسلیما. (النساء- ٦٥)

یعنی ستا په رب دی قسم وی چه دا خلك تر هغه مؤمنان کیدای نشی تر څو په خپلو ټولو اختلافی مسایلو کی ستا حکم ته غاړه کیږدی بیاستا دفیصلی په مقابل کی په خپلو زړونو کی د حرج او تنګئ احساس و نه کړی او دغه فرمان ته کاملاً تسلیم شی.

د الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم په مقابل کی دبل چا د احکامو اطاعت د قرآن له مخی

بنکاره بغاوت او د منافقانو د روش او سلوك په نوم یادشوی دی:

واذا قیل لهم تعالوا الی ما انزل الله والی الرسول رأیت المنافقین یصدون عنك صدودا.

(النساء)

یعنی کله چه ورته وویل شی راشی د الله له لوری د نازل شویو احکامو اود رسول الله صلی الله علیه وسلم د احکامو (پیروی وکړی) نو منافقانو ته به وګوری چه ستانه څنډه کوی.

یهودو چه دشرعی احکامو په مقابل کی د خپلو علماؤ او مشایخو احکام قابل اطاعت وبلل او عملاً یی د هغوی اطاعت هم وکړ نو قرآن حکیم ورته په دغه وجه د مشرکینو خطاب ورکړ.

اتخذوا احبارهم ورهبانهم اربابا من دون الله والمسیح ابن مریم.

(سوره توبه- ۳۱)

یعنی یهودو خپل علماء او مشایخ له الله تعالی نه علاوه دخپلو خدایانو په حیث و منل او مسیح ابن مریم یی هم د خپل رب په حیث ومانه.

له حضرت عدی بن حاتم رضی الله عنه نه روایت دی چه ماله رسول الله صلی الله علیه وسلم نه واوریدل چه دغه پورتنی مبارك آیت یی تلاوت کاوه.

فقلت یا رسول الله انهم ماکانوا یعبدونهم فقال صلی الله علیه وسلم انهم اذا احلوالهم شیئا استحلوه واذاحرموا علیهم شیئا حرموه فذالك عبادتهم.

یعنی عرض می وکړ چه یا رسول الله یهودو او نصاراؤ خو دخپلو علماؤ عبادت نه کاوه.

پیغمبر علیه السلام وفرمایل چه دغو علماؤ به کوم شیان حلال وګنل یهودو به حلال ګنل او چه کومو ته به د یهودو علماؤ حرام وویل خلکو به هم حرام ګنل چه همدغه د علماؤ عبادت دی. (ترمذی شریف)

د الله تعالی کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت هغه دوه لارښوونکی مراجع دی چه په هر عصرکی د الحاد او لادینیت په سیلابونو او د ګمراهئ په خطرناکو طغیانونو کی د اسلامی امت د نجات وسیله کیدی شی او مسلمانان د دغو لارښوونکو مراجعو په تمسك سره د هلاکت او تباهئ څخه ژغورل کیږی، نجات د قرآن او سنت په اطاعت کی منحصر دی او هدایت هم له هغوی سره تړلی دی نو نه پوهیږو چه د قرآن او سنت نه په مخ ګرځولو او د نورو خلکو په اطاعت کی د نجات لاره څنګه میندل کیږی؟

او هدایت له کوم ځای څخه اخستل کیږی.

قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ترکت فیکم امرین لن تضلوا ما تمسکتم بهما کتاب الله وسنة رسوله.

(موطاإمام مالك)

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دوه شیان می تاسوته پری ښودل که یی اطاعت وکړئ ګمراه به نشئ: یو د الله کتاب او دوهم د هغه د پیغمبر سنت.

د دین د امامانو د فقهی کتابونو خبره خو پریږده چه د الله تعالی هغه کتابونه چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه وړاندی نازل شوی دی لکه تورات، زبور، انجیل، صحف ابراهیم او نورو حیثیت هم ختم شویدی او د دغوآسمانی کتابونو لرونکو پیغمبرانو اطاعت هم په مونږ واجب نه دی لکه څنګه چه نبوی ارشاد څخه ثابته ده:

عن عمر ابن الخطاب اتی رسول الله صلی الله علیه وسلم بنسخة من التوراة فقال یا رسول الله هذه نسخة من التوراة فقال له رسول الله صلی الله علیه وسلم والذی نفسی بیده لو ید الکم موسی فاتبعتموه و ترکتمونی لضللتم عن سواء السبیل ولو کان موسی حیا وادرك نبوتی لا تبعنی. (دارمی)

ترجمه: یو ځل عمر ابن خطاب رضی الله عنه د توراة له یوی نسخی سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم حضور ته راغی او عرض یی وکړ حضور، دا د توراة یوه نسخه ده پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل په هغه ذات دی زما قسم وی چه زما نفس د هغه په واك کی دی که موسی علیه السلام پخپله موجود وی او تاسو د هغه پیروی وکړئ او زما له اطاعت نه لاس واخلئ ګمراه به شئ. که موسی ژوندی وی او زما د نبوت اعلان ورته رسیدلی وی زما اطاعت او متابعت به یی کړی وی.

په دی ډول د آحادیثو په کتابونو کی زیات روایات موجود دی چه له هغو څخه په ښکاره ډول ثابتیږی چه د یو مؤمن لپاره په هر وخت او هر حالت کی ضروری او لازمی خبره دا ده چه هغه به د قرآن او سنت د احکامو اطاعت کوی او د قرآن او سنت د صریحو احکامو په مقابل کی نه د هغه لپاره د بل چا اطاعت جایز دی او نه هغه په هیڅ کوم حالت کی د قرآن او سنت له لارښوونو څخه مستغنی کیدلی شی.

هغه کسان چه دقرآن او سنت په مقابل کی د دین د امامانو اطاعت ضروری ګنی په حقیقت کی د دی خبری ثبوت وړاندی کوی چه دوی په دینی علومو پوره پوه نه دی یا دا چه په زړونو کی یی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مینی په نسبت د نورو مینه زیاته پیاوړی ده.

اوس به راشو دی خبری ته چه آیا د دین امامانو خلکو ته د خپل تقلید اجازت ورکړی کنه؟

امام احمدبن حنبل وائی:

لیس لاحد مع الله ورسوله کلام.

یعنی د الله او رسول د کلام په موجودیت کی د هیچا کلام ارزښت نه لری.

(عقدالجید)

أدع إلى سبيل ربك بالحكمة والموعظة الحسنة وجادلهم بالتي هي أحسن الآية

دعوت

د توحید او جهاد مجله

د افغانستان د جماعة الدعوة الى القرآن والسنة د افکارو خپرونکه

۲۴- ګڼه

د شهید شیخ (رحمه الله) ژوند په ټک کښې د حق دین او د توحید او سنت په نشر او اشاعت او د باطلو قوتونو په مقابله کښې تیر شوی دی.

"الشیخ عبدالسلام"

علماء کرام خو د الله تعالیٰ فضل دی ډیر دی او د ټولو قدر پکار دی لیکن شهید شیخ (رحمه الله) یو صحیح العقیده عالم و.

مولانا گوهر رحمان صاحب

مظلوم شهید (رحمه الله) عالم، فاضل، محدث، مجاهد او امام شخصیت و چه د دین د پاره ئې بالید، بالقلب والبدن، بالمال واللسان جهاد سرته رسولی دی.

محمد عنایت الرحمن

امام شهید رفتار حکیمانه و کردار عالمانه داشت و دارای عقیدهٔ سلف صالحین بود، اعتراضات و شکایات مردم را با جبین کشاده می پذیرفت و باهر که بقدر توانش مساعدت می نمود.

مولوی حمید الله "بدخشانی"



الهی فرمان

بسم الله الرحمن الرحيم

«انما المؤمنون الذين امنوا بالله ورسوله ثم لم يرتابوا وجاهدوا باموالهم وانفسهم في سبيل الله ط اولئك هم الصادقون ۝ قل اتعلمون الله بدينكم ط والله يعلم ما في السموات وما في الارض ط والله بكل شئ عليم ۝ يمنون عليك ان اسلموا ط قل لا تمنوا علي اسلامكم ج بل الله يمن عليكم ان هديكم للايمان ان كنتم صادقين ۝»

(الحجرات- ۱۵-۱۷)

ترجمه: په حقيقت کی خو مؤمنان هغه دی چه پر الله او د هغه په پيغمبر ئی ايمان راوړی، بيا هغوی څه شك ونکړ او په خپلو مالونو او سرونو سره يی د الله په لاره کی جهاد وکړ، همغوی ريښتينی خلك دی.

ای پيغمبره! (د ايمان دغو مدعيانو ته) ووايه، آيا تاسی الله ته د خپل دين خبر ورکوی؟ پداسی حال کی چه الله د ځمکی او آسمانونو په هر څه باندی پوهيږی او هغه د هر شی علم لری. دوی پر تا احسان باروی چه دوی اسلام راوړ. دوی ته ووايه د خپل اسلام احسان پر ما مه اچوئ بلکه الله پر تاسی احسان باروی چه هغه تاسی ته د ايمان لارښوونه وکړه که تاسی په ريښتيا سره دخپل ايمان دعوه کی ريښتونی يی.